د دوحې ترون دی!

چې روښانه راتلونکی تضمینولای شي

مورچل

پنځلسم کال لومړی، پرلپسې ۱۴۸مه گڼه،

جمادی الثانیة- رجب المرجب ۱۴۴۲هـق، جنوري- فبروري ۲۰۲۱م

دشمال لوېديځو ولایاتو جهادي مسؤل مولوي

عبدالکریم جهاد یار صاحب:

خپله ټوله پاملرنه مو معارف، صحت، بیارغونې او د ملکي تلفاتو مخنیوي ته ده

- هغه رژیم چې یوه لیک پرې لږزه راوسته
- د امام حسین (رضي الله عنه) لمسی همداسې وي!!؟
- د فقهي مجالسو ګټې او اهداف!!
- هو! په ديني مدارسو بریدونه لومړي او وروستي نه دي!

نگاهی بر نقض معاهدات بین المللی از سوی آمریکا

مورچل

علمي، سياسي او جهادي مياشتنۍ خپرونه

پنځلسم کال لومړۍ، پرلپسې ۱۴۸مه گڼه،
جمادی الثانیة-رجب المرجب ۱۴۴۲هق، جنوري- فبروري ۲۰۲۱م

لړليک

گڼه	مطلب	مخ
۱	سرمقاله	۱
۲	د دوحې د توافقنامې د لومړۍ کلیزې په مناسبت اعلامیه...	۲
۳	د امام حسین ﷺ لمسی همداسې وي ؟!	۴
۴	نگاهی بر نقض معاهدات بین المللی از سوی آمریکا	۶
۵	په ديني مدارسو بريدونه لومړي او وروستي نه دي...	۹
۶	جهادي مسئول مولوي عبدالکريم جهاديار سره مرکه	۱۱
۷	هغه رژيم چې يوه ليک پرې لړزه راوسته	۱۶
۸	د حوت لسمه داسلامي امارت ژمنتيا او دامريکا مسئوليت	۱۸
۹	د شهيد مولوي عبدالغفار شفق رح ژوندته کتنه	۲۰
۱۰	د دوحې ټرون د برم ځلې!	۲۶
۱۱	د خپلو شهيدانو وروڼو له ويارونو ډک ژوند ته کتنه	۳۰
۱۲	د شهيد ملاعتيق الله ابودجانه ژوند ته کتنه	۳۴
۱۳	د فقهي مجالسو ګټې او اهداف !	۳۹
۱۴	د اسلامي دعوت اخلاقي بنسټونه ...(زيری ورکول)	۴۴
۱۵	د مورچل دارالافتاء	۴۹
۱۶	جنګي جنايتونه (جنوري/فبروري)	۵۰
۱۷	د مورچل وړمې	۵۸
۱۸	د۲۰۲۱م کال د جنوري/فبروري مياشتې جهادي خبرونه	۴۵

د امتياز خاوند

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر

صلاح الدین "صارم"

کتـــنپلاوی

ایـــوب صـــافی	حکـــــمت
معیـن احـــمد	حافـظ سعـید
حســـــن زوی	موسی فرهـــاد

تخنیکي چارې

دفرهنګي کمیسیون تخنیکي څانګه

مکاتباتي ادرس

پته: کابل ښار، پنځمه حوزه، دمجلې دفتر
E-mail: morchalmorchal@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحيم

د دوحې تړون دی !

چې روښانه راتلونکی تضمینولای شي

د امریکا په متحده ایالاتو کې دنوي حکومت په راتلو سره زمونږ دقضیې سیاسي حل ته ډېری شنونکو داسې اټکل کاوه چې شاید د دوحې تړون لغوه اویا چورلټ بدل شي او لکه څنګه یې چې اټکل کېده هغسې ترسره نه شي، خو ولیدل شوه چې دامریکا نوي حکومت هم تر ډېره د دوحې تړون اساسات ومنل او له افغانستان څخه دامریکایي قواوو وتل یې (چې د دغه تړون تر ټولو عمده برخه ده) تأیید کړل.

که څه هم د تړون په تطبیق کې ډېرې نیمګړتیاوې موجودې دي اولکه څنګه چې دتړون غوښتنه ده ټول په ټوله نه دی عملي شوی، خو په ټوله کې له امریکایانو او نورو نړیوالو سره د نن او راتلونکي لپاره د ښو اړیکو او مثبتو نتیجو رامنځته کېدو ته همدا تړون تر ټولو ښه اساس بلل شوی، یواځې د نن ورځې یو طرفه لنډ مهالې ګټې نه دي چې په پام کې ونیول شي او قضاوت پرې وشي، بلکې د سبا معامله، ښه راتلونکی، ښې اړیکې او متقابله کامیابه دیپلوماسي هم په نظر کې نیول په کار دي.

دا چې اسلامي امارت په قضیه کې اساسي لوری دی، نو د دغسې نتیجو ترلاسه کېدل یواځې د همدې تړون د پوره تطبیق په صورت کې تحقق موندلی شي، اسلامي امارت عملاً هم وښوده چې په کړې وعده څه ډول ژمنتیا ښودلی شي، امریکایان په رسمي ډول په خپله اعتراف کوي چې د تېر یوه کال په موده کې مو یو امریکایي عسکر هم نه دی وژل شوی، خو په مقابل کې یې دوی بیا په تړون کې کړې وعدې نه دي پوره کړې، اووه زره (۷۰۰۰) بندیان لاهم نه دي خوشي شوي، نه تورلست ختم شوی او نه یې هم تهاجمي بریدونه درولي، ولې مونږ بیا هم له زغم څخه کار اخیستی او داچې تړون مو منلی اودهیواد دپاته کشالې لپاره ټولمنلی حل دی، ځکه مو تراوسه په متقابل غبرګون لاس نه دی پورې کړی او نه مو ورته تخطي کړې .

دمتحده ایالاتو نوي حکومت له لوري د دوحې تړون د اساساتو منل هسې دتصادف او اټکل له مخې نه دي، بلکې د قضیې ټولو ابعادو ته له ژور نظر وروسته په دغه تأیید راضي شوي دي، ځکه نو په کار ده چې په نورو لاو له فکر مخکې دهغه په تکمیل او پوره تطبیق کار وشي او پرښنښودل شي چې د ډېرو اوږدو بحثونو په نتیجه کې درامنځته شوي اتفاق په ځای په بل څه فکر وشي چې هغه به بیا دهمدومره لوی تششت او پراګندۍ زېږنده وي، چې د ستونزې دحل په ځای به ستونزه لا پېچلې کړي، ځکه داتلسو میاشتو په موده کې رامنځته شوی طرزالعمل په حقیقت کې په همدومره موده کې د قضیې تحقیق او څېړنه ده، نه عجولانه پرېکړه .

اسلامي امارت لکه څنګه چې په خپله په کړو وعدو ژمنتیا ښودلې په ورته ډول له مقابل لوري هم په کړې تعهد اوژمنه د وفا تمه لري، د دې لپاره چې نور زمونږ په هیواد او سیمه کې بې ثباتي رامنځته نه کړي او زمونږ د هیواد اشغال پای ته ورسوي په کار ده چې دامریکامتحده ایالات د دوحې دتړون درامنځته شوي فرصت څخه کار واخلي دسولې د ټینګښت په غرض یې په پوره تطبیق لاس په کار شي.

د دوحې د توافقنامې د لومړۍ کلیزې په مناسبت
د افغانستان اسلامي امارت اعلامیه

د ۱۴۴۱هـ ق د رجب په ۵ نېټه چې د ۱۳۹۸ د حوت له ۱۰ نېټې سره سمون خوري، د افغانستان اسلامي امارت او د امریکا د متحده ایالاتو ترمنځ د بین المللي شاهدانو او د ګڼو هېوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو او استازو په وړاندې تاریخي توافقنامه لاسلیک شوه.

دغه توافقنامه د افغان ولس او د امریکې د ولس لپاره یوه تاریخي توافقنامه ده؛ ځکه چې د شل کلنې تحمیلې جګړې د پای ته رسولو په موخه شوې.

مور ټولو په ځانګړي ډول خپل ګران ولس او سرښندونکو مجاهدینو ته د دې تاریخي توافقنامې د کلیزې په مناسبت مبارکي وایو.

د یادې توافقنامې له مخې د امریکا متحده ایالاتو ژمنه کړې چې له تاکلې نېټې را په دیخوا په ۱۴ میاشتو کې به دوی، د دوی متحدین او ائتلافیان خپل ټول نظامي ځواکونه، د هغوی ټول غیر دیپلوماتیک ملکي پرسونل، شخصي امنیتي قراردادیان، روزونکي، مشاورین او خدماتي پرسونل وباسي.

بالمقابل اسلامي امارت ژمنه کړې چې هېڅوا ته به اجازه ور نه کړي چې د افغانستان له خاورې څخه د امریکا د متحده ایالاتو او د هغوی د متحدینو او ائتلافیانو امنیت ته ګواښ پېښ کړي.

د همدې تاریخي توافقنامې پر اساس د افغانستان اسلامي امارت پنځه زره او د مقابل جهت زر تنه بندیان آزاد، او په تعقیب یې بین الافغاني مذاکرات پیل شول. که څه هم متأسفانه چې دغه پروسه شپږ میاشتې و ځنډول شوه، خو دا ځنډ د افغانستان اسلامي امارت له خوا نه و.

له دې سره سره د زندانیانو خلاصون او بین الافغاني مذاکراتو پیل په حقیقت کې د افغانستان د معضلې د حل او د ولس د آرامۍ او سوکالۍ د راتګ لپاره یو ښه او مثبت پرمختګ و.

د شپږ زره بندیانو آزادیدل په حقیقت کې د ولس د شپږ زره کورنیو لپاره د خوښۍ او خوشحالۍ یو زیری و.

د افغانستان اسلامي امارت د یادې توافقنامې د لومړۍ کلیزې په مناسبت خپل موقف په لاندې ډول اعلانوي:

اسلامي امارت له خپل لوري د توافقنامې ټولو محتویاتو ته ژمن او عملي کول یې د افغانستان د معضلې د حل او د سولې د ټینګښت یواځینۍ موثره وسیله ګڼي، چې د اسلامي نظام تر سیوري لاندې به تحقق مومي.

اسلامي امارت د توافقنامې پر بل لوري (امریکا متحده ایالاتو) هم غږ کوي چې د توافقنامې د ټولو موادو په عملي کولو سره په افغانستان کې د امن او ثبات د ټینګښت لپاره خپلې ژمنې عملي کړي.

۳ - د متباقي بندیانو خلاصون او د تورو لیستونو ختمول د توافقنامې له مادو څخه دي، چې تر اوسه نه دي عملې شوې. د بین الافغاني مذاکراتو د روانې پروسې د چټکتیا لپاره باید عملي ګامونه واخیستل شي. د توافقنامې د عملي کیدو په وسیله باید د وضعیت د ښه والي لپاره کار وشي، او په ناسم لوري د وضعیت له بیولو څخه ډډه وشي.

۴- د دوحې توافقنامه په افغانستان کې د امن او ثبات د ټینګښت لپاره یوه عملي لاره ایجاد کړې. که د هغې په مقابل کې د بل هر بدیل هڅه کیږي پایله به یې سر له اوسه په ناکامي محکومه وي.

۵- د دوحې د توافقنامې په اساس د افغانستان اسلامي امارت په خپلو عملیاتو کې د پام وړ کموالی راوستی دی. په لویو استخباراتي او نظامي مراکزو عملیات نه دي شوي، لوی استشهادي عملیات نه دي شوي، د ولایاتو د سقوط پلان نه دی نیول شوی، ولسوالیو ته سقوط نه دی ورکړل شوی، چې دا ټولو ته واضح او څرګند دي.

البته په دې اړه مقابل لوري خپل مسئولیت پوره نه دی ادا کړی، اوس هم بمبار، ډرون حملې، چاپې او تهاجمي عملیات چې د توافقنامې په اساس منع دی د مقابل لوري له خوا تر سره کیږي، او زیاتره ملکي خلکو ته پکې زیان اوړي، او له دې سره د جګړې کچه لوړیږي.

بل دا چې په دې وروستیو کې ځینو کړیو داسې پیښو، په ځانګړي ډول د ملکي خلکو هدف ګرځولو ته مخه کړې ده چې ګټې یې له پردیو سره ټرلې دي، دوی غواړي په دې توګه وضعیت کړکچین وښیي، او د هېواد د اشغال او جګړې د دوام لپاره بهانې جوړې کړي.

٦- د ځیني عملي نیمګړتیاوو سره سره بیاهم توافقنامه لا په مثبت لوري روانه ده، چې له ښو پایلو څخه یې ټولې خواوې برخمنې دي. د همدې توافقنامې له مخې د بهرنیو ځواکونو په ځانګړي ډول د امریکایي ځواکونو ډېرې برخه زموږ له هېواد څخه وتلي دي. پاتې ځواکونه هم باید له ټاکلي وخت سره سم زموږ له هېواد څخه ووزي. همدا ډول د افغانستان اسلامي امارت هم خپلو تعهداتو ته پوره التزام ښودلی دی، او په خپلو تعهداتو ولاړ دی.

۷- قطر هېواد، امنیت شوری او ټول هغه هیوادونه او بین المللي ناظرین چې د دوحې توافقنامې د انعقاد په مراسمو کې برخوال وو د یادې توافقنامې د بشپړ عملي کیدو مسئولیت لري چې باید پوره یې کړي. والسلام

د افغانستان اسلامي امارت

۱۶/۷/۱۴۴۲هـ ق

۱۰/۱۲/۱۳۹۹هـ ش ـ ۲۸/۲/۲۰۲۱م

د امام حسين رضي الله عنه لمسی همداسې وي!!؟

خبيراحمد م

د کابـل رژيـم د ولسمشـر ړومبـي مرسـتيال امرالله صالح څو ورځي وړانـدې د پخـوانی تلـوالي مشر جـنرال فهـيم دتلـين پـه غونـډه کـې د امريکـا د بهرنيـو چـارو وزيـر لـه لـوري نومـوړي رژيـم تـه د لړزونکي ليک په غبرگون کې په داسې حال کې چې مورال او حوصله يې سخته لويدلي وه او بڼه کې يـې وينه تښتيدلي وه، وويل: هغه د امام حسين رضي الله عنه لمسی ده، مرگ او شهادت به قبـول کـړي خـو د طالبانو طرحي او دده په اصـطلاح د پاکسـتان دام تـه چې په امريکايي ليک کې له ورايه بريښـي تسـليم او سر ټيټ نه کړي.

د صـالح دغـو غورځـو پرځـو تـه پـه ټـولنيزو رسنيو کې يـو شـمير هيوادوالـو مناسـب او پرځـای تبصرې اوځوابونه ليکلي وو چې په خلاصه ډول يـې دلته ځيني مفاهيم را اخلو؛ که امرالله صالح لږ فهـم او درک هم ولري بيا به چيرته ونـه وايـي چـې هغـه د امام حسين رضي الله عنه لمسـی او کړوسـی دی او يا يې کوم نسبت او تړاو ورسره شريک اوپيلي دی.

لومړی خو صالح ته بايد وويلی شي چـې کـه تـه پـه رښـتيا دامـام حسـين رض لمسـی وای نـو دا صورت اوسيرت به دې ورته ورته وو، د هغـه ديـن او شريعت ته به دې غاړه ايښودلي وه، دخپل اقتـدار پـه دوران کې به دې دشريعت د پلي کيدلو په برخه کـې يوه پنځه گامه اخيستی وو، د الهي قانون اومحمـدي شريعت په ځای بـه دې دجمهوريـت او ديمکراسـی دچليـدو لپـاره هـرډول اصرار نـه کـاوه، دجومـاتونو امامـان، دپوهنتـون ددينـي پوهنځيـو اسـتادان بـه دې دشش نيم بجو په ناستو کې د وژل امر نه ورکـاوه او ته او خدای ته دې دغه مخلوعي، سپکي او فحـاشي ځيري او منبوکي ته وکسه او د امام حسين رضي الله عنه له خاندان سره ځان ننبلول، که امام حسـين رض ژوندی وای ايا ته به يې په همدې برتـانوي نيکټـايي، خريلي مخ څو سوه (قمچيني) نه وای وهلی؟

ته که رښتيا د امام حسين رض لمسی يې نـو د قـران کـريم څـو مبـارک ايتونـه ولي نـه شي تـلاوت کولی، څه وخت وړاندې دي په يوه غونډه کې دقران کريم ايتونه په ليکلي ډول هـم مختـه ايښـي وو؛ خـو داسې دې لوستل لکـه يـوانگريز چـې تـازه مسـلمان شوي وي او څوک يـې وربانـدي د ايـمان د اثبـات لپاره وايي.

امام حسین رض خو په ارګ کې نه و او له دوو تابعیتونو څخه یې هم متابعت نه کاوه، امام حسین خدای جل جلاله د شهیدانو یوه نمونه وګرځاوه، نه د جان کیري غلام، هغۀ په دښتو کې جنګونه کول تاسې له ملي بودیجې څخه په اخیستل شوو ضد مرمۍ لسګونو موټرو کې ګرځی د امام حسین رض شعار حق و او ستاسو شعار د یو درواغجن جمهوریت ساتل دي چې دهغه سرنوشت کې د امریکا د سفیر او خارجه وزیر له لوري ټاکل کیږي.

امام حسین رض د یزید او یزیدیانو په مقابل کې د ازادۍ او حق لاروی او د ټولو ټولنیزو، اخلاقي او... فسادونو پر وړاندې د مبارزې یوه نمونه وه. مګر نن دا خبرې د هغو مفسدو چارواکو له خولې اورو چې تر پوزې پورې په اخلاقي او ټولنیز فساد لړلي.

د حسین د طریقې امر او شعار و چې مۀ پر چا ظلم کوئ او مۀ هم د چا د ظلم ښکار.

مګر ستاسو په حکومت کې غلا تر حد واوښته، ظالم او مفسد چارواکي هره ورځ د ملت په سترګو کې خاورې اچوي، ټولنیز عدالت له مرۍ نیول شوی؛ نو تاسو ته شرم پکار دی چې د کربلا د اتلانو تر نامۀ لاندې د خلکو له عقایدو او احساساتو څخه ناوړه ګټه اخلئ. آیا تاسو دا ویلی شئ چې کورنۍ مو چېرته اوسېږي؟

آیا د هغو بېوزلو له دقیقو ارقامو او حالت څخه خبر یاست چې له مجبورۍ څخه و خپل اولادونه پلوري؟

ایا ستاسې ترسترګو لاندې یوائي په کابل ښارکې څومره کلیساوي شتون لري، څومره دفساد، فحشاوو مراکز له یوې نه بلي ورځي ته ډیریږي، دکومي کلیسا او کومي فحاشي ادې په وړاندې مو کله اقدام کړی، دیني مراکز، مدرسي، جوماتونه او نور ولسي اجتماعات خو روزانه بمباروی، ایا حیا نه درځي چې له دومره وحشت او دیني دښمنی باوجود بیاهم په خوله راوړي چې زه دامام حسین رض لمسی یم.

په کار خو دا وه چې دافغانستان شیعه مشرېه اتباع چې هغوئ یې دخاصي پیروی لپاره هرکال لسګونه ټنه وینه تویوي نن ټول ستا په وړاندې را اوچت شوي چې د امام حسین رض لمسی هیڅکله تا غوندي مفسد، قاتل او دروغجن نه د هغه په لمسیانوکې تیرشوی او نه به تیرشي؛ نو باید له خپلي دغې دعوي او شعار څخه ژر تر ژر بیزاري او پښیماني وښیي!!؟

خو هغه څوک چې ستا وینا ته ناست وو که اهل تسنن وو که اهل تشیع تر ډیره ځایه ستا په څیر اوشکل اوستا دمفسد باند او مافیا، غړي او ترلي کړی. وي چې د تاسف اوشرم په ځای یې متاسفانه تاته چکچکي هم کولي.

پاک رب جل جلاله ته لپي نیسو چې نور په اتل، میړني او دین پروره افغان ولس خاص مرحمت وکړي او نور یې دامام حسین رضی الله عنه کاذب لمسیان ددوئ له سر او سرنوشت څخه لرې او ورک وګرځوي (امین)

مفتی نور محمد متوکل

نگاهی بر نقض معاهدات بین المللی از سوی آمریکا

نقض توافقات و معاهدات بین‌المللی از سوی ایالات متحده آمریکا در طول تاریخ به جزئی جدایی‌ناپذیر از سیاست خارجی این کشور تبدیل شده است. رویکرد دولت‌های مختلف ایالات متحده همواره بر عدم پایبندی به تعهداتی که واشنگتن ملزم به اجرای آن‌ها شده، مبتنی بوده است و در این میان، آمریکایی‌ها حتی به هم‌پیمانان و متحدان خود نیز رحم نکرده‌اند. لذا میخواهم بخشی از عهد شکنی‌های مشهور واشنگتن در طول تاریخ را مورد بازخوانی قرار دهیم.

نقض پیمان «وِرسای»

این پیمان در سال ۱۹۱۹ میلادی میان طرف‌های پیروز در جنگ جهانی اول و نیز متحدین شکست‌خورده به امضاء رسید و مطابق آن جنگ جهانی اول پایان یافت. علی رغم اینکه دولت وقت آمریکا معاهده مذکور را به امضاء رساند، اما در نهایت مجلس سنای آمریکا در اقدامی عجیب و تأمل‌برانگیز از تصویب معاهده اجتناب کرد تا بدین‌ترتیب، اجرای تمامی تعهدات واشنگتن در پیمان وِرسای در هاله‌ای از ابهام قرار گیرد و زمینه وقوع جنگ جهانی دوم فراهم شود.

زیر پا گذاشتن پیمان «چارچوب توافق» با کره شمالی

یکی از عهدشکنی‌های مشهور آمریکا نیز به زیرپای گذاشتن پیمان موسوم به «چارچوب توافق» میان این کشور و کره شمالی در اکتوبر سال ۱۹۹٤ میلادی بازمی‌گردد. این پیمان‌نامه به منظور پایان دادن به فعالیت‌های هسته‌ای کره شمالی به امضاء رسید. امضای این پیمان نه‌تنها به حل‌وفصل بحران میان آمریکا و کره شمالی منجر نشد بلکه تشدید این بحران را نیز به دنبال داشت، زیرا واشنگتن به تعهداتش عمل

نکرد. سرانجام با روی کار آمدن «جرج بوش» به عنوان رئیس‌جمهور آمریکا، تیر خلاص به پیمان‌نامه مذکور زده شد، چراکه وی در سال ۲۰۰۲ میلادی رسما و به صورت علنی اعلام کرد که واشنگتن هیچ تعهدی نسبت به اجرای مفاد پیمان موسوم به «چارچوب توافق» ندارد.

عهدشکنی در اجرای «توافقنامه استراتژیکِ امنیتی» با عراق

در سال ۲۰۰۸ میلادی آمریکایی‌ها یک توافقنامه استراتژیکِ امنیتی را با دولت عراق به امضاء رساندند. طبق این توافقنامه مقرر شد تا نیروهای آمریکاییِ مستقر در عراق به تدریج از این کشور خارج شوند. آمریکایی‌ها در این توافقنامه مشهور متعهد شدند تا پایان سال ۲۰۱۱ میلادی تمامی نیروهای نظامی خود در خاک عراق را از این کشور خارج سازند. با این‌حال، پس از پایان سال ۲۰۱۱ نه‌تنها نیروهای آمریکایی از خاک عراق خارج نشدند بلکه چند سال پس از این توافق یعنی در سال ۲۰۱۴ واشنگتن در قالب تشکیل ائتلاف بین‌المللی به اصطلاح ضد داعش حضور نظامی خود در خاک عراق را پررنگ‌تر ساخت و تمامی تعهداتش در چارچوب توافق استراتژیک امنیتی را زیر پای گذاشت.

خروج از «پیمان تجاری اقیانوس آرام»

این پیمان‌نامه در فبروری سال ۲۰۱۶ میلادی میان ۱۲ کشور حاشیه اقیانوس آرام به جز چین، با هدف کاهش تعرفه‌های گمرکی میان کشورهای عضو به امضاء رسید. با این‌حال، پس از روی کار آمدن «دونالد ترامپ» در آمریکا، وی بی‌درنگ نسبت به خروج واشنگتن از این پیمان اقدام کرد.

خروج از «توافق پاریس»

این توافقنامه با هدف کاهش گازهای گلخانه‌ای و مبارزه با مشکلات محیط‌زیست در دسمبر سال ۲۰۱۵ با توافق بیش از ۱۴۰ کشور نهایی و تصویب شد. با این‌حال، ایالات متحده آمریکا در اگست ۲۰۱۷ میلادی رسما خروج خود از توافق را اعلام کرد.

عهدشکنی در اجرای تعهدات در قبال «یونسکو»

سازمان «یونسکو» که زیرمجموعه سازمان ملل متحد محسوب می‌شود در سال ۱۹۲۲ میلادی با هدف کمک به برقراری صلح در جهان ایجاد شد و آمریکا نیز یکی از اعضای آن بود. با این‌حال، واشنگتن در یک عهدشکنی جدید در دسمبر سال ۲۰۱۷ میلادی اعلام کرد که دیگر به تعهدات خود در قبال «یونسکو» پایبند نخواهد بود.

عهدشکنی در اجرای تعهدات در قبال «برجام»

شاید بتوان از عهدشکنی آمریکایی‌ها در قبال توافق هسته‌ای با ایران موسوم به توافق «برجام» به عنوان مهم‌ترین نقض عهدهای واشنگتن در طول چند دهه اخیر یاد کرد .

علی رغم اینکه توافق برجام حاصل قریب به ۱۰ سال رایزنی‌های سیاسی میان ایران و

طرف‌های مختلف بین‌المللی بود و در دور نهایی مذاکرات نیز آمریکایی‌ها خود به صورت مستقیم در گفتگوها مشارکت داشتند ودر سال۲۰۱۵ میلادی توافق صورت گرفت .اما رئیس‌جمهور آمریکا در ماه مِی سال ۲۰۱۸ میلادی رسما خروج واشنگتن از برجام را اعلام کرد. از آنجایی که توافق برجام به تصویب شورای امنیت سازمان ملل رسیده بود، اقدام آمریکایی‌ها در واقع نقض صریح و آشکارِ قوانین بین‌المللی به شمار می‌رود.

تخطی های آمریکا از« پیمان دوحه»

با آنکه توافق نامه«پیمان دوحه» میان امارت اسلامی وایالات متحده امریکا در دهم حوت سال۱۳۹۸ هش به امضا رسید، وبیشتر از یکسال از آن سپری شده است، وکمتر از دو ماه دیگر باقی مانده است که طبق تعهد نامه باید آمریکا ومتحدان شان تمام نیروهای نظامی،پرسونل غیر دیپلوماتیک، قراردادی های شخصی امنیتی، استادان، مشاوران، وپرسونل خدماتی شان را از افغانستان خارج کنند وبه اشغال کشور نقطه پایان گذاشته شود.

در مقابل امارت اسلامی تعهد نموده بود که به هیچ کسی اجازه نمی دهد تا از خاک افغانستان به ایالات متحده امریکا وائتلافیان اش تهدید ایجاد کند.

اما متاسفانه در جریان یک سال دولت آمریکا مرتکب تخطی های شده است که بخشی آن در سطور ذیل باز خوانی می شود:

بمباردمان جنگنده های عساکر امریکای در هرات، فراه وبرخی ولایات دیگر کشور،عدم حذف نام های رهبران امارت اسلامی از لیست سیاه، دور نساختن تعزیرات مالی وامنیتی وعدم رهای زندانیان متباقی امارت اسلامی.اینهمه مواردی هستند که باید مطابق تعهدنامه در جریان چند ماه اولی میعاد تطبیق وعملی می شد که نشده است. همچنین در این روز ها خبرهای شنیده می شود که گویا آمریکا تمایل به بیرون ساختن نیروهای خود طبق معاهده پس از ماه می سال جاری میلادی ندارد، ویا دولت جوبایدن پیمان دوحه را بازنگری می کند؛ ازموارد فوق دانسته می شود که آمریکا مانندیگر پیمان های بین المللی به توفق نامه دوحه صادقانه عمل نمی کند.

باید ایالات متحده امریکا خود ره بر پیمان دوحه ملزم داسنته وبه طولانی ترین جنگ تاریخ کشور خود نقطه پایان بگزارد وبیشتر از این حیثیت خود ره در سطح جهان لکه دار نسازد.در صورت نقض پیمان از سوی آنها، ملت مجاهد افغان مجبور هستند تا از ارزش های اسلامی، ملی ، نوامیس و خاک خود دفاع کنند.پایان

هو! په ديني مدارسو بريدونه لومړي او وروستي نه دي!

رحيمي

څو ورځې د مخه د هيواد په ختيځ «ننګرهار ولايت خوګيانو ولسوالۍ تټنګ سيمه» کې په يوې ديني مدرسې باندې د بزدل غلام رژيم لخوا د شپې په يو ناځوانمردانه او وحشيانه بريد کې لس تنه د عظيم الشان قرآن معصوم حافظان په شهادت ورسول شول.

انا لله وانا اليه راجعون

رښتيا هم دا وحشيانه او ظالمانه عمل چې هر څومره محکوم او وغندل شي بيا به هم کم وي، ولې په شهادت رسول شوي معصوم حافظان خپلو مينډو او پلرونو مدرسې ته د عظيم الشان قرآن د حفظ په نيت استولي وو او ورته په تمه وو چې زامن به يې د حفظ بشپړولو وروسته په داسې شان ور درومي چې په سرونو به يې سپينې پګړۍ تړلې وې او په غاړو کې به يې رنګ، رنګ ګلان زانګي، لېکن د کابل اسلام دښمن او علم دښمن رژيم هغوی د خپل تن په وينو کې لت پت ور ولېږل.

دا په لنده موده کې دويم ځل دی چې د کابل وحشي عسکر ديني مدارس تر بريدونو لاندې نيسي- ددې نه وړاندې (يعنې د کب په۱۴ مه ۱۳۹۹ل) د مزدور دولت عسکرو د کندهار ولايت پنجوايي ولسوالۍ په «ريګي» سيمه کې د دستار بندۍ په مراسمو باندې په هوايي برید کې د قران کريم ۳ تنه حافظان «شهيدان» او څلور تنه يې ټپيان کړي وو.

د کابل مزدورې اداري تر ټولو لويه بې ننګي او د پيغور نه ډک جسارت او نه بښونکی جنايت دا دی چې د خپلې شرمونکې ماتې غچ له بې دفاع او بې وسلې معصومو طالبانو يا حافظانو څخه اخلي، هر کله چې د اسلامي امارت ځواکونو سره په مخامخ جګړه کې شکست وخوري، نو بيا حتماً په دغسې بزدلانه بريدونو او چاپو لاسونه پورې کوي او په زياته بې رحمۍ او بې دردۍ سره په جګړه کې غير دخيل کوچنې طالبان په شهادت رسوي.

هو! د کابل پرديپال او اجير حکومت لخوا په ديني مدارسو دا نه لومړی برید دی او نه به وروستی وي، ددې نه وړاندې يې کابو څلور کاله مخکې (دحمل په ۱۳مه ۱۳۹۷ل) د کندوز ولايت دشت ارچي ولسوالۍ «لغمانيانو» کلي کې د اجير دولت الوتکو د (هاشميه دارالعلوم) دستاربندۍ په مراسمو بمبار وکړ او په ترڅ کې يې شاوخوا ۱۰۰ تنو د قران

کریم حافظانو او ګډونوالو ته یې مرګ ژوبلـه وارولـه، نو چې ترڅو د اشرف غني او صالح پشان د دین وطـن او قـرآن دښـمنان پـه واک کـې شـتون ولـري، دغسـې بشریت ضد جنایتونه او وحشتونه به هم دوام ولـري او نه به د دواړو د واک په شتون کې کوم مسلمان او افغان د خپل ځان او کورنۍ د خوندیتابه احساس ولري.

د ځینو باوري سرچینو په راپور: په ديني مدارسو باندې د وروستیو وحشیانه بریدونو، چاپو او بمباردونو طراح امر... سالې دی، هغه ددې لپـاره چـې پـه هیـواد کې ديني فکر زندۍ کړي، د ديني فکر پـه روزنتونـو او مراکـزو د بریـدونو نـوې سـتراتېژې جـوړه کـړې ده، د خبري سرچینـو پـه قـول: سـالي د خپـل غـلام دولـت کابینې ته هم ویلي: چې دوی له هغه طالب نه ډېـر ډار نلري چې په سنګر کې د هغـه سره پـه مخـامخ جنـګ کـې ښـکېل دي، بلکـې د هغـو طالبـانو د شـمیر لـه زیاتوالي یې لري چې دلته د هیواد دننه په مدارسو کـې روزل کېږي او جنګي طالبانو ته ورته ثقافت او کلتـور ته وده ورکوي، هغه (سـالي) دا هـم ویـلي: د هـر ډول توپیر پرته مطلقاً د مدرسې طالب بایـد د نظـام دښـمن وګڼل شي او هم سر لـه اوس نـه، نـه یـوائې د طالـب چاره وشي، بلکې د هغه فکر پلویان او لارویان دې هم وځپل شي، ځوک چې د موجوده نظام په تخریب کـې بالقوه لاسونه لري او شپه ورځ په خواله رسـنیو کـې د نظام پر خلاف پروپاګندونه کوي.

دېته په کتو سرکال یې د هیواد پـه زیـاتو ولایتونـو او ولسوالیو کې د اکثریت مدارسو طالبان بالجبر بایو میتـرک کړل، په دې کې ترټولو زیاته دلچسپي او ټینګـار د سـالي و چې خامخا باید د مدارسو طالبان ټول له بـایومیټرک ځخـه تیرشي، ځو دا جوته شي چې د هیـواد دننـه مدارسـو کـې کوم ډول طالبانو ته روزنه ورکول کېږي.

د کتونکو په اند: سالې او غني دواړه ذهناً د ديني فکر د خوریدو او د اسلامي علومـو د درس و تـدریس سره غوځ مخالفت لري، او پر ضد یې عمـلاً دوه ډولـه عملیات تنظیم کړي دي، یو یې په ديني مدارسو باندې خپلو اجیر سپیشل پورس عسکرو ته د چاپو اچولـو او بمباردونو کولو حکـم کـړی دی او دوهـم یـې د هغـو ديني مفکرانو او اشخاصو (چې د سـولې لپـاره مبـارزه کوي، د اشغال پـای تـه رسـیدل غـواړي او د اسـلامي نظام د راتګ پلوي کوي) په مرمـوز ډول وژلـو پریکـړه کـړې ده، لـه کلـه نـه چـې اشرف غنـي او سـالي سره یوځای ملګري شوي دي، د کابل ښار دننه او بیرون په لوی شمیر کـې هغـه شخصـیتونه ووژل شـول، کومـو چې د سـولې راتلـو لپـاره مبـارزه کولـه، کومـو چـې د خارجیانو د وتلو غوښتنه کوله او کوم چـې د اسـلامي نظام پلویان او ملاتړي وو.

په پای کې راځم دیته چې هغه افغان ولـس چـې له پیړیو، پیړیو راهیسې مسلمان او باتور ولـس یـاد دی او کـوم چـې تـل د خپـل دیـن د سرلـوړۍ او هیـواد د ازادۍ لپاره بې دریغـه تـاریخي قربـانۍ ورکـړې دي، د اوسني اجیر رژیم د یادو ظالمانه او وحشیانه کړنـو پـر خلاف دې خپلـه اوسـنۍ چوپتیـا پـای تـه ورسـوي او پرضد دې غږ پورته کړي، ځو د اسلام دښمنه لوچکانو ددې قابضې مافیا نه هیواد او هیوادوال نجات ومومي.

د شمال لوېديځو ولایاتو جهادي مسؤل

مولوي عبدالکریم جهاد یار صاحب :

مرکه کوونکی: نوراني عزام.

خپله ټوله پاملرنه مو معارف، صحت، بیارغونې او د ملکي تلفاتو مخنیوي ته ده!

د مجلې درنو لوستونکو!

د هیواد د نورو ولایتونو په څیر سرکال په شمال لویدیځو ولایتونو کې هم د پام وړ پر مختګونه شوي، دا چې د دې پرمختګونو او لاسته راوړنو جزیات څه دي؟ په اړه یې مور د یادو ولایتونو د نظامي کمیسیون د حلقې له مسؤل محترم مولوي عبدالکریم جهادیار صاحب سره لنډه مرکه کړې چې لوستلو ته یې ستاسي پام را اړوو.

پوښتنه: محترم جهادیار صاحب لومړی ښه راغلاست درته وایو؛ که په پیل کې د شمال لویدیځو ولایتونو د نظامي وضعیت په هکله له درنو لوستونکو سره معلومات شریک کړئ؟

ځواب: نحمده و نصلي علی رسوله الکریم اما بعد: له هر څه وړاندې تاسي او ټولو قدرمنو لوستونکو ته خپلې نیکې هیلي، سلامونه او احترامات وړاندې کوم، خدای جل جلاله دې وکړي چې له کامل صحت او عافیت څخه به برخمن یاست.

شمال لویدیځ ولایتونه چې له بادغیس، فاریاب ، جوزجان، سرپل او غور څخه عبارت دي لله الحمد د جهادي چارو په اعتبار سره د هیواد یوه مهمه سیمه او د جهادي معرکو تود ډګر دی، د لوي خدای جل جلاله په فضل او نصرت سره د دې ولایتونو مطلق اکثریت سیمې د دښمن له شتون څخه تصفیه شوي دي، ټولې اطرافي سیمې، مهمې لارې، عمومي سړکونه، ستراتیژیک موقعیتونه او

لوی مراکز د اسلامي امارت د مجاهدینو په لاس کې دي .

همدا راز هغه سیمې چې په تیرو کلونو کې له دښمن څخه تصفیه شوي، سږ کال هم د دښمن د سترو پوځي عملیاتو سره سره په کامله توګه ساتل شوي او دښمن سږ کال له ټولې هڅې او زیار سره نه دی توانېدلی چې د اسلامي امارت تر واک لاندې سیمو کې کومه ساحه تر خپل واک لاندې راولي.

د دې ترځنګ مجاهدینو د دښمن ټول هغه مراکز، پوستې او قرارګاوي له منځه وړې چې په لویو لارو او سیمو کې د ولسي خلکو د اذیت او ضرر سبب وو، چې په دې سره له یوې خوا ولس د دښمن له شر او ضرر څخه خوندي شوی او له بلې خوا په ټولو سیمو کې د اسلامي او شرعي احکامو په پلي کېدو سره سرتاسري امنیت او عدل رامنځته شوی دی.

پوښتنه: مولوي صاحب؛ په پوځي عملیاتو کې د ولسي خلکو د مرګ ژوبلې مخنیوي ته مو څومره پاملرنه کړې، او د ولسي خلکو د مرګ ژوبلې د مخنیوي لپاره کوم تدابیرپه لاس کې لرئ؟

ځواب: لکه څرنګه چې تاسي خبر یاست اسلامي امارت د ټول هیواد په کچه د ملکي تلفاتو د مخنیوي او سمع شکایاتو کمېسیون جوړ کړی چې هغه بیا په ټولو ولایتونو او ولسوالیو کې ځانګړي مسؤلین لري چې د هغوی لخوا د مجاهدینو ټول پوځي عملیات او بریدونه تر کلکې څارنې او نظارت لاندې وي او د مجاهدینو د عملیاتو هغه موارد چې د ملکي هیوادوالو د مرګ ژوبلې او یا د هغوی د اماکنو د زیان احتمال ولري مجاهدین په داسې ځایونو د بریدونو له تر سره کېدو څخه منعه کوي.

همدا راز مجاهدینو ته وخت په وخت لارښوونه کېږي چې مجاهدین دې د دښمن په هغه مراکزو ډله ییز تعرضي بریدونه او عملیات نه تر سره کوي چې د ولسي خلکو په ګڼ میشته کلیو او کورونو کې واقع وي بلکي پوځي عملیات به د اړتیا په وخت کې د دښمن په هغه مراکزو له ځانګړي تاکتیک او پلان څخه په استفادې د ځانګړو لیزرو او دوربینونو په مټ په داسې حال کې تر سره کېږي چې ولسي خلک د عملیاتو په ځای او وخت کې موجود نه وي او تنها به په پوستو او قرارګاوو کې ناست اجیر دښمن هدف ګرځوي.

همدارنګه د اسلامي امارت د مشر تابه او د ملکي تلفاتو د مخنیوي او سمع شکایاتو د کمېسیون له لوري مجاهدین د دښمن په هغه مراکزو او پوستو د لویو اسلحو لکه هاوان، ډیسي-

توپ او داسي نورو هغه اسلحو لـه اسـتعمال څخـه هم په کلکه منعه کړي دي چې په استعمال سره يې د دښمن تـر څنـګ د ولسي- خلکـو د سر او مـال د زيان احتمال هم وي.

همداراز ياد کمېسـيون د ولسي- خلکـو ټـول هغه شکايتونه اوري چې له مجاهدينو څخه وي او که خداى مکړه د مجاهدينو له لـوري کـوم ملکـي هيوادوال ته تکليف ورسيږي شکايت کوونکى به يې د ياد کمېسيون نماينـده تـه شـکايت کـوي او هغـه بـه تـورن مجاهـد د اسـلامي امـارت نظـامي محکمې ته معرفي کوي چې تر څيړنـې او تحقيـق وروسـته د نظـامي محکمـې لـه لـوري مجـازات کيږي.

نو پـه مجمـوع کـې ويلـى شـو چـې اوس د اسلامي امارت د مجاهدينو په بريدونو کې ملکـي هيوادوالو ته هيڅ نوعه زيان نه رسيږي او نـه هـم مجاهـدين د ولسي- خلکـو د اذيـت او ضرر سـبب کيدلاى شي، بلکې همدا مجاهدين دي چې د خپـل ولس د سر، مال او امنيت د خوندیتوت او حفاظـت مسؤليت او دنده په غاړه لري.

پوښتنه: په شـمال لويـديځو ولايتونـو کـې د معارف، صحت، دعوت ارشاد، بيارغونې او داسـې نور فعاليتونه څرنګه او په کوم وضعيت کې دي؟

ځواب: زمونږ په مربوطه ولايتونو کـې يـادې ټـولې څـانګې ښـه پـه قـوت سره فعاليـت لـري، د اسلامي امـارت د تعلـيم او تربيـې کميسـيون پـه ټولو ولايتونو او ولسوالیو کې ځـانګړي مسـؤلين لري چې د هغوى لخوا د خپل کاري طرزالعمل سره سـم ټـول مکاتـب، مـدارس، ليسـې او ښـوونځي راجستر شوي او د ټولو د ښه فعاليت او پر مختګ لپاره پوره هڅه او کوشش کوي چې اوس په ټولـو سيمو او ساحو کې د تعليم او تربيې د هڅو له امله ټول مکاتب او مدارس ښه فعاليت لري.

د صـحت د چـارو لپـاره اسـلامي امـارت ځانګړى کمېسيون لري چې ټوله صحي برخه په بر کې نيسي، په ټولو ولايتونو او ولسوالیو کې يـې کلينکونه او صحي مراکز جوړ کړي او هغه صحي خدمات چې د نـورو خيريـه مؤسسـاتو او اداراتـو لخوا په هيواد کې ممکن وي د هغوي سره په پـوره همکارۍ او د هغوى د امنيت او خـدماتو د سـاتنې او ارزونې چارې ورسره مخته وړي، چې د همـدې کمېسيون د هڅو لـه املـه اوس زمـونږ د ولايتونـو ټول صحي برخه ښه په قوت سره پـر مـخ روانـه ده او د ولس ټول صحي مشکلات ورسره حل دي.

د دعوت او ارشاد لپاره ځـانګړى کمېسـيون دى چـې لـه مخـالف صـف څخـه د تسـليميدونکو کسانو لپاره د تسليمۍ اسانتياوې برابروي، دعوت ورکوي، کله چـې کـوم کسـان تسـليم شي د امـن

ترځنګ د راتلونکي ژوند لپاره اسانتیاوي ورته برابروي، د دښمن غولیدونکي کسان په تسلیمېدو سره له مرګه ژغوري او د هیواد دراتلونکي نسل د ښې روزنې او اصلاح لپاره هڅه کوي، چې اوس د همدې کمېسیون د هلو ځلو له املې زمونږ په مربوطه ولایتونو کې د دعوت او ارشاد کمېسیون چارې خورا منظمې او په ښه ډول کې روانې دي او د همدې کمېسیون د هلو ځلو له املې سرکال زمونږ په مربوطه ولایتونو کې سلګونه تنه د کابل اداري د مختلفو ادارو عسکر او چارواکي تسلیم شوي دي.

همدا راز په ټوله کې د فرهنګي برخې لپاره د اسلامي امارت په تشکیلاتو کې د فرهنګي چارو کمېسیون دی چې د اسلامي امارت روان سیاسي او پوځي برخې ته انعکاس ورکوي، ورځني خبرونه تر کورنیو او نړیوالو رسنیو پورې د ویاندویانو له لارې رسوي، په خپلو رسنیو کې یې نشروي، روان جریانات د تاریخ حافظې ته سپاري، په ټولنیزو رسنیو کې منظم فعالیت لري.

دلته په دغه ساحه کې هم د فرهنګي کمیسیون مسؤلین خپل کار په ښه توګه ترسره کوي، وخت په وخت فرهنګي مواد خلکو ته رسوي او د فرهنګي کمیسیون د نشراتو او خپرونو موارد ور په ګوته کوي.

همدا راز اسلامي امارت د هیواد د بیارغونې او ابادۍ لپاره هم ځانګړي مسؤلین لري چې د مؤسساتو د کنټرول او تنظیم چارې هم مخته وړي او د اسلامي امارت له لوري د بیا رغوني تر ځنګ د مؤسساتو سره په هماهنګۍ په خورا شفاف ډول د بیا رغونې چارې، توزیع او د تاسیساتو رغونه کوي، چې لله الحمد زمونږ په مربوطه ولایتونو کې د همدې کمېسیون او مسؤلینو د هلو ځلو له املې د بیا رغونې او د مؤسساتو کاري خدمات هم ډیر ښه روان دي.

د دې کمېسیونونو تر ځنګ اسلامي امارت د زراعت او مالدارۍ کمېسیون جوړ کړی دی، چې یاد کمېسیون بیا د زراعت او مالداري د بهبود او پرمختګ لپاره کار کوي او ولس ته د زراعت او مالداري په اړه زمینه سازي کوي او همداراز د یاد کمېسیون د مسؤلینو له لوري د زراعت او مالدارۍ په اړه ولس ته وخت په وخت لازمې سپارښتنې او مشوري هم ورکول کیږي، چې لله الحمد د یاد کمېسیون د هڅو له املې یاده برخه زمونږ په ولایتونو کې خورا ښه فعاله روانه ده.

دغه راز په نورو برخو کې هم کارونه ښه روان دي زمونږ په ولایتونو کې لله الحمد له هیڅ نوعه ستونزوسره نه دي مخامخ شوي او د بهبود او پرمختګ لپاره یې نورې هلې ځلې هم روانې دي.

پوښتنه: لکه څنګه چې مونږ ته معلوم شوې تاسې په خپلو مربوطه ولایتونو راګرځېدلئ، ولایاتو او ولسوالیو ته مو سفرونه درلودل کړ د دې سفرونو په هکله معلومات راسره شریک کړئ؟

ځواب: هو سرکال مونږ او د نظامي کمیسیون د حلقې مشترک هیئت زمونږ مربوط ولایتونو ته سفرونه وکړل او هلته مو له علماء کرامو، قومي مخورو، دانشمندانو، او عامو ولسي خلکو سره تفصیلي مجالس ترسره کړل او د هغوی نظرونه، غوښتني او مشکلات مو واوریدل همداراز له خپلو مسؤلینو سره مو هم مجالس ترسره کړل. لله الحمد سفر ښه بریا سره ترسره شو.

پوښتنه: مولوي صاحب لکه څرنګه چې تاسي خبر یاست؛ د قطر هیواد پلازمینه دوحه کې د اسلامي امارت او امریکا تر منځ د اشغال د خاتمې ترون لاسلیک شو او دا دی بین الافغاني مذاکرات هم پیل شوي ، د اسلامي امارت د یو پوځي مشر په توګه له امریکا سره ترون او د بین الافغاني مذاکرات روان بهیر څرنګه ارزوئ؟

ځواب: د اسلامي امارت مشران، ټول مجاهدین او مسؤلین یو دریځ او نظر لري، په قطر کې له امریکا سره روان مذاکرات او وروسته توافق او بیا بین الافغاني مذاکرات د ټول امارت د مشرانو، مسؤلینو او مجاهدینو په نظر مثبت ګام او ښه لاسته راوړنه ده، له امریکا سره د اشغال د خاتمې د ترون ټولو مادو ته د اسلامي امارت ټول مشران، مسؤلین او مجاهدین ژمن دي، او اوس کومې خبرې او مذاکرات چې روان دي او یا که مذاکرات کومه نتیجه ورکړي او بلاخره یو توافق رامنځته شي، نو دا به د ټول اسلامي امارت لپاره توافق وي، بناءً کوم دریځ او پالیسي- چې د اسلامي امارت ده هغه زمونږ او زمونږد ټولو مجاهدینو دریځ او پالیسي ده.

پوښتنه: که د مرکې په پای کې د افغانستان مجاهد ولس ته کوم پیغام او توصیه لرئ مهرباني وکړئ؟

ځواب: ولس ته مو دا پیغام دی چې تاسي د روان جهاد په اوږدو کې د اشغالګرو او د هغوی د اجیرانو په وړاندې کلکه او نه ستړې کېدونکې راسخه مبارزه وکړه چې همدا ستاسي د همکاری، مرستې او ملاتړ نتیجه ده چې هیواد مو نړۍ دی چې له اشغال څخه خلاص او د سوچه افغان شموله اسلامي نظام څښتن شي، هیله مو داده چې لکه څرنګه چې تر دې دمه مو زمونږ مرسته او ملاتړ کړی که مو اوس هم په نیکو دعاګانو کې تل یاد وساتئ او هیڅکله مو له ملاتړ څخه بې برخې نه کړئ. پای

حبیب مجاهد

هغه رژیم چې یوه لیک پرې لړزه راوسته

دا څـو ورځـې کیـږي چـې د کابـل د ګـوډاګي اداري پـه چـارواکو یـو ځـل بیـا د وارخطایي لړزه ګډه شوې ده. نه کومه آسماني ټکه رالویدلې او نـه هـم کوم ځمکنـی نـاورین پـېښ دی. خـبره دا ده چـې د امریکـا د بهرنیـو چارو وزیر انتـوني بلیـنکن اشرف غنـي تـه خـط رالیږلی او هغه یې د امریکـایي ځواکونـو د وتلـو د قاطع تصمیم په اړه خبر کړی دی.

د لیک له رارسـیدلو وروسـته اشرف غنـي او د ارګ نور چارواکي داسې ګبډې نیولې، لکـه د اجل نوبت یې چې رارسیدلی وي. څو ورځـې خو یې خبره پټه ساتلې وه او ځانونه یـې ناګاره اچولي وو. خو وروسـته چـې د لیـک محتویـات رسنیو افشاء کړل، نـو اشرف غنـي او مرسـتیال یې امر الله صالح د دې په ځای چې یـو معقـول غبرګـون وښـیي، هـا د چـا خـبره لـه خـولې یـې لاس واخیست او په اپلټو سر شول. اشرف غنـي چې په اتم مارچ د ښځو د ورځـې پـه مناسـبت مراسـمو کـې غږیـده او امرالله صـالح چـې د قسـیم فهـیم پـه تلـین کـې خـبرې کـولې، لـه څیـرې، حرکـاتو او وارخطـا حالـت څخـه یـې لـه ورایـه معلومیـده چـې د امریکـا د خارجـه وزیـر لیک یې خوبونه تښتولي دي، نو ځکه یې عقل او حواس بایللي دي.

د امریکا د خارجه وزیـر لیـک او ورسره لـه رامنځته شوي حالت څخه څو خبرې ثابتیږي.

ـــ د لیـک لـه رارسـیدو وروسـته د ارګ د چـارواکو او ټـول رژیـم وارخطـایي وښـوده چـې دغه اداره چې ځان د افغانستان حکومت بـولي څـومره بـې ریښـې، کمـزورې او ناکاره ده. هغـه اداره چـې یـو کاغـذي لیـک یـې وار پـار خطـا کولای شي هیڅکله د دې وړتیا نـه لـري چـې د

افغانستان غوندې د سرلوړي هيواد واکمنې وکړي. زمور هيواد په دې شهرت لري چې د تاريخ هيڅ توپان نه دی لړزولی او د حوادثو په وړاندې همیشه د ثابت غره په شان دريدلی دی. د ارګ د چارواکو وارخطايي ثابتوي چې دوی له دې ولس او خاورې سره اړيکه نه لري بلکې د کومې اجنبي پديدې په حيث د پرديو لخوا په دې هيواد تپل شوي دي.

ـــ د انتوني بلينکن په ليک کې د امريکايانو آمرانه لهجه ښيي چې د سپينې مانۍ چارواکي د ارګ له واکمنو سره د کوم سيال سياسي اړخ په حيث چلند نه کوي چې په ډيپلوماټيکه ژبه يې مخاطب کړي. بلکه د خپل تابع او حلقه بګوش اجير په نظر ورته ګوري نو ځکه يې په داسې آمرانه لهجه مخاطبوي او دا ورته ښيي چې راتلونکې کورنۍ وظيفه يې څه ده او بايد کوم کارونه ترسره کړي.

ـ د انتوني بلينکن ليک چې په کې له افغانستان څخه د بهرنيو عسکرو په وتلو تاکيد شوی، دا خبره هم څرګندوي چې د اشرف غني د اداري هغه چورتونه او هيلې بې ځايه وې چې د امريکا له نوې ادارې څخه يې درلوده. د امريکا د تيرو تاکنو پر مهال د ارګ چارواکو د دې لپاره لابي کوله تر څو د ټرمپ پر ځای جو بايډن بريالی شي او په دې ډول د ټرمپ لخوا پيل شوې د اشغالګرو د انخلاء پروسه معطله کړي. اما اوس ښکاره شوې چې د امريکا نوی ولسمشر جو بايډن هم د افغانستان په موضوع کې د ټرمپ لاره تعقيبوي او اراده لري چې د دوحې له قرارداد سره سم خپل عسکر له افغانستانه وباسي.

ـ لکه څنګه چې انګريزانو په وروستيو کې شا شجاع افغان غازيانو ته تنها پريښود او لکه څنګه چې د شوروي اتحاد وروستي مشر ميخايل ګورباچوف ډاکټر نجيب او نورو کمونيستانو ته ځواب ورکړ او مرستې يې وروندې قطع کړې. د امريکا د خارجه وزير وروستی ليک يو ځل بيا دا خبره ثابتوي چې بهرني بادارانو هيڅکله د خپلو ګوډاګيانو تلپاتې ملاتړ نه کوي. د هغوی ملاتړ تر هغه وخته وي چې د دوی ګټې يې ايجابوي. اما کله چې وروندې سخته راشي نو بيا خپل اجيران په خالي ميدان پريږدي او دوی خپل هيواد ته ستنيږي.

د حوت لسمه،

د اسلامي امارت ژمنتیا او د امریکا مسئولیت

حسن زوی

د حوت لسمه نیټه د افغان مسلمان ولس لپاره هغه تاریخي او له ویاړونو ډکه ورځ ده چې پر افغانستان د امریکایي اشغال د پای ته رسیدو تاریخي ټرون پکې لاسلیک شو.

که د کابل پر واک مسلط شوي ماده پرست لاسپوڅي حاکمان د مظلوم ملت په خاطر له خنډونو ایجادولو تېر او همدا تاریخي ټرون په بشپړ ډول عملي شي ډېر ژر به بهرنی اشغال پای ته ورسېږي؛ په تېرو ۴۰ کلونو کې د هېواد د قرباني شویو ټولو بچیانو ارمانونه به پوره؛ په افغانستان کې به د ولس د هیلو سره سم اسلامي نظام حاکم؛ جنګ او بدامني به ختمه او یوه تلپاتې سوله به رامنځته شي.

اسلامي امارت کوم جابر زبر ځواک ندی چې پر نړۍ د خپلې باداری خوبونه ووینې او یا یې جنګ او هڅې ددې لپاره وي چې نړۍ یې پر دښمن برلاسي ومني.

نړۍ امریکا یا اسلامي امارت ته په کوم نظر ګوري؟ کوم شکست خوړلې او کوم فاتح بولي؟ دا د افغانستان د اسلامي امارت لپاره بنیادي خبره نده او نه یې هم روان جدو جهد ددې لپاره دی.

د امریکا وتل ، د اشغال او د اشغال سره د ټرلو ټولو بدبختیو پای ته رسېدل او د عدل او انصاف نه ډک د یوسوچه اسلامي نظام نفاذ زمور اصل هدف دی؛ له اساني لارې ددې هدف ترلاسه کېدل زمور لپاره غنیمت او د جنګ له لارې یې د حصول هڅې زمور د خوښې انتخاب نه بلکې مجبوریت دی.

دښمن مو چې په خپل زور مست و؛ له خبرو یې انکار کاوه او د هېواد د دائمي اشغال په اراده یې پرمور حمله وکړه نو د الله تعالی د حکم سره سم د ملت بچیان ښه په لور مورال د دښمن مقابلې ته را ووتل.

د جنګ په ډګر کې له شکست خوړلو وروسته چې امریکا له اسلامي امارت نه د مذاکراتو غوښتنه وکړه نو د الله تعالی د امر سره سم ورسره اسلامي امارت مذاکرات پیل کړل چې لله الحمد، الله تعالی د جنګ د ډګر په څېر دلته هم فتح رانصیب او د اشغال د پای ته رسېدو یو تاریخي ټرون رامنځته شو.

مور اول مسلمانان او بیا افغانان یو؛ د غدر، مکاری او منافقت نه خپل شریعت منع کړي یو او دا مو کلتور هم ندی.

د یاد ټرون یو کال پوره شو؛ اسلامي امارت چې د لاسلیک کولو پر مهال د دې ټرون د ټولو محتویاتو د عملي کولو تعهد کړی و تر پایه خپل تعهد ته ژمن دی او خپلې ټولې کړې ژمنې یې پوره کړې دي.

د دوحې د توافقنامې په اساس د افغانستان اسلامي امارت په خپلو عملياتو کې د پام وړ کموالی راوستی دی؛ په لويو نظامي مراکزو عمليات نه دي شوي، د ولاياتو او ولسوالیو پر مراکزو بريدونه نه دي شوي او نه سقوط ورکړل شوی؛ د مقابل لوري مشخص شوي بنديان خلاص شويدي.

خو متأسفانه چې په دې اړه مقابل لوري خپل مسئوليت پوره نه دی ادا کړی، ټول شرايط برابر دي خو د اسلامي امارت ټول بنديان لا هم نه دي آزاد شوي؛ اوس هم بمبار، ډرون حملې، چاپې او تهاجمي عمليات چې د توافقنامې په اساس منع دي، د مقابل لوري له خوا تر سره کېږي، چې په دې سره د ملکي تلفاتو کچه ډېره لوړه شويده .

د کابل اداري قدرت طلبي ماده پرست واکمنان غواړي وضعيت کړکچين وښيي او د هېواد د اشغال او جګړې د دوام لپاره بهانې جوړې کړي نو ځکه يې په هېواد او خصوصا پلازمېنه کې د علماؤ، د پوهنتونونو استاذانو؛ ژورنالستانو او نورو بانفوذه خلکو هدفي وژنو ته مخه کړې ده .

دا چې اسلامي امارت د ټرون بقاء کې د خپل ملت او هېواد سترې ګټې ويني نو د مقابل لوري د ټولو تخلفاتو په مقابل کې يې له زغمه کار اخيستی دی او په وار وار يې له مقابل لوري غوښتي چې بايد له ټرون نه د تخلفاتو مخه ونيسي او پرېنږدي چې جګړه خوښه کړئ د سولې په مخ کې خندونه جوړ کړي.

مورِ پدې پوهېږو چې د دښمن فکر او اقدامات زمورِ نه بلکې د خپلو ګټولپاره دي؛ دا دعوی هم نه کوو چې ګيني د دښمن د ټولو ناکارو ارادو نه مورِ خبر يو او لا د مخه يې مورِ د مخنيوي تدابير نيولي دي.

مورِ به ترپايه خپلو وعدو ته ژمن يو ؛ او د خپل بشري توان سره سم به د دښمن توطئو ته متوجې يو او د مخنيوي هڅې به يې کوو همدا مو توان دی او همدا مو مکلفيت دی؛ نتايج د الله تعالی په لاس کې دي ؛د هغه د کرم نه مو دا امېد دی چې ښه نتايج به پرې مرتب کړي.

مورِ ښه په جهر وايو چې د حوت د لسمې تاريخي ټرون او د ټرون ټولو محتوياتو ته ژمنتيا د افغانستان، امريکا، د سيمې د هېوادونو بلکې د ټولې نړۍ په ګټه ده نو د جانبينو او ټولې نړۍ مسئوليت دی چې دا ټرون ماتېدو ته پرېنږدي .

د امريکا نوې اداره هم بايد حقايق درک کړي؛ په خپل ولس او افغان ملت نور د ظلم لړۍ ودروي او يوې بې ګټې او تاواني جګړې ته د پای ټکی کېږدي، ځکه چې په تېرو شلو کلونو کې دا حقيقت ښه په ډاګه شو چې د زور کارول امريکا ته هيڅ ګټه نه رسوي.

د هېواد او ملت ازادي؛ دعدل او انصاف په ستنو ولاړ د اسلامي نظام نفاذ ؛ د بهرنۍ قبضې ختمول زمورِ لپاره هغه عالي مقاصد دي چې مورِ ترې هيڅکله تېرېدلی نه شو؛ که امريکا ټرون مات کړ نو پر ضد به يې د مقدس جهاد د روان ساتلو پرته بله لار نه وي چې پدې امريکايان هم ښه پوهېږي؛ دا اوس په امريکايانو ده چې ټرون ته په ژمن پاتې کېدلو خپل حيثيت ساتي او ابرومندانه وتل انتخابوي او که د څه مودې لپاره د لازياتو مالي اوځاني تلفاتو نه پس د ذلت نه ډکه تېښته؟

د شهید مولوي عبد الغفار شفق رَحِمَهُ ٱللَّهُ

ژوند او کارنامو ته کتنه

بشیر

مور مسلمانان په دې خبره ایمان لرو چې یواځې د الله ﷻ ذات به تل قائم او دایم پاته وي، نور کائنات پناه کېږي او د الله ﷻ په لور درومي.

غرض دا چې هر انسان او هر ساکنین به خامخا د مرګ ذایقه څکي او مصؤن پاته کیدای نشي، خو هغه انسان بختور او نیکمرغه دی چې د الله تعالی په لار کې هغه ته د شهادت مرګ نصیب شي، خپل ځان او خپلې وینې د الله تعالی د دین د سرلوړی په خاطر قربان کړي.

نېکاره ده چې د تیرو څلور لسیزو په اوږدو کې په میلیونونو افغانانو د خپل هیواد د ازادی او د الله تعالی د دین د سرلوړی لپاره خپل سرونه قربان کړل، که هغه د شوروي یرغل په وړاندې د جهاد تاریخي دوره وه او که د موجوده امریکایي یرغلګرو په مقابل کې د روان جهاد دوره ده، په دواړو کې افغانانو بې دریغه قربانۍ او شهادتونه یې وړاندې کړل، د کومو په برکت چې د مغرورو او کبرجنو ځواکونو تندي په زمکه و سولیدل، په خاصه توګه هغې امریکا چې ځان یې نه ماتیدونکی ستر ځواک ګڼه، په تیرو شلو کلو کې افغان باتور قام ورته داسې د عبرتونو څخه ډک سبق ورکړ چې راتلونکي نسلونه به یې په یاد ساتي او بیا به پخپلو خیرنو سترګو کې افغانستان ته د را کتلو جرئت نکوي.

بیشکه؛ ازادي یا استقلال د قربانیو پرته کوم ولس ته په تحفه کې څوک نه ورکوي، تاریخ په دې شاهد دی، هر ولس چې د خپلې ازادۍ په سر د معاملې یا سودا کولو په ځای د قربانۍ مسیر غوره کړی دی او د ظالم دښمن په وړاندې یې خپلې سینې سپر ګرځولې دي او د ځوانانو په رګونو کې یې د ازادۍ او خودۍ وینه ځغلي، خپل دښمن ته شکست ورکوي او هر قوم چې د خپل د ښمن څخه مرعوب شوی دی او د یرغل په مقابل کې د مقاومت نه لاس په سر شوی دی؛ هغه بیا د ټول عمر لپاره غلام ګرځیدلی دی، د ازادۍ او استقلال تاج یې د سر نه پرېوتی، عزت او وقار یې

په ذلت بدل شوی دی، حاکمیت او واک یې په محکومیت بدل شوی دی.

افغان ولس چې د میړانو او حماسو نه ډک تاریخ لري، د روان امریکایي اشغال په وړاندې چې کوم ښکلي ځوانان، تنکي طالبان او ځوانان قربان شول، د هغوی له ډلې نه شهید مولوي عبد الغفار شفق رَحِمَهُ ٱللَّهُ هم و، څوک چې یو زړور، فداکار ، زړه سواند او بې ریا مجاهد و، غواړو په لنډ ډول د نوموړي په ژوند، جهادي کارنامو او میړانو رڼا واچوو، ترڅو لوستونکي یې د خدمتونو او قربانیو څخه خبر شي.

زوکړه یې:

شهید مولوي عبد الغفار شفق رَحِمَهُ ٱللَّهُ په ۱۳۵۵ ل کې د کاپیسا ولایت الاسای ولسوالۍ اسکین درې « ادینه خیل » په نوم کلي کې د مرحوم صوفي غلام حضرت په د یندارہ کورنۍ کې سترګې غړولې وې، نوموړی یو باوقار، عزتمن، مؤدب، ځوان عالم، بې کبره او بې ریا انسان و او د ژوند زیات وخت یې جهادي سنګرونو کې مجاهدینو سره تیروه.

زده کړې یې:

شهید مولوي عبد الغفار شفق لومړنۍ دیني زده کړې د هجرت په دیار (باجوړ) کې پیل کړې وې او بیا یې د یادې سیمې په مختلفو دیني مدارسو او جامعاتو کې ټول مروجه فنون و علوم و لوستل، وړه دوره یې د باجوړ د مشهور عالم شیخ الحدیث مولوي محمد صادق رَحِمَهُ ٱللَّهُ په مدرسه ریاض العلوم کې کړې وه او راتلونکي کال ته یې د لویې دورې کولو اراده وه، لیکن هیواد کې د شر و فساد پر ضد د افغانستان طالبانو د مرحوم امیر المؤمنین (ملا محمد عمر مجاهد) په مشرۍ پاڅون وکړ، نوموړی هم د یاد پاڅون او تحریک سره ملګری شو.

شهید مولوي عبد الغفار شفق زړور، زیرک او هوښیار طالب و، په لنډ وخت کې یې جنګي تاکتیکونه یاد کړل، هغه مهال چې د هیواد ختیځ ولایتونه د طالبانو د اسلامي تحریک په لاس فتح شول، نوموړی هم د خپلو نورو ملګرو سره یوځای په کونړ کې په جهادي خدمتونو مصروف شو او څنګه چې کونړ له امنیتي پلوه یو نا امنه ولایت و، هلته به اکثر د غرنۍ جغرافیې نه یې په ګټه اخیستو سره پر د ښمن غلچکي بریدونه ترسره کول، څو طالبان او مجاهدین مصروف وساتي او په شمال کې د مسعود په جنګي جبهو باندې فشار کم کړي، نو وخت په وخت یې د کونړ په څینو ولسوالیو کې حملې او بریدونه کول، کوم چې به طالبانو لخوا د چټګ ځوابي غبرګون سره مخ کیدل او په وجه به یې د لنډ مقاومت وروسته مخالفین وتښتیدل.

شهید شفق به هر وخت د خپلو ملګرو سره یوځای د دغسې بریدونو د مخنیوي او مقابلې لپاره مجهز او چمتو ولاړ و او هرځل به یې ځان د جګړې ځای ته رساوه او په ښه مردانګۍ سره به یې د مخالفینو مقابله کوله، نوموړي په کونړ سربیره په نورو ولایتونو لکه لغمان، کاپیسا، تخار او بامیانو ته هم د جهادي خدمتونو په خاطر په تشکیلونو کې لاړ و.

مسؤولیتونه یې:

کله چې کونړ ولایت د طالبانو د اسلامي تحریک لخوا فتح شو، مولوي عبد الغفار شفق سرکاټو ولسوالۍ کې د امنیه قومندان په توګه مقرر شو، څه موده وروسته د سرکاټو غونډې قومندان مقرر شو او هم کله نا کله د کونړ د ۹ مې فرقې د سرپرست په توګه به یې دنده اجراء کوله.

د امریکایي یرغل وروسته :

د یوولسم ستمبر د بریدونو په پلمه چې کله امریکا زمونږ په هیواد باندې وحشیانه یرغل وکړ او اشغال یې کړ، د افغانستان اسلامي امارت د یرغل په وړاندې د جهاد او مقاومت مسیر ونیو، د نور هیواد پشان کاپیسا کې هم مجاهدینو په اشغالګرو باندې تندریز بریدونه شروع کړل، مولوي عبد الغفار شفق هم د دغه جهاد په لړ کې د لومړنیو مشرانو مجاهدینو څخه و چې د کاپیسا ولایت لپاره د اسلامي امارت د جهادي مسؤل قاري صیب احسان الله بریال په مشرۍ کې یې په جهادي خدمت لاس پورې کړ، په لومړي سر کې نوموړی د کاپیسا ولایت «الاسای» ولسوالۍ نظامي مسؤل مقرر شو، چې په پوره میړانه او زړورتیا سره یې هلته د یرغلګرو په خلاف جهادي عملیات شروع کړل.

او بیا کله چې د اشغالګرو ځواکونو په یوه بې رحمانه چاپه کې د کاپیسا ولایت مرستیال «مولوي محمد الله رَحِمَهُ ٱللَّهُ» شهید شو، نو د هغه پر ځای (مولوي عبد الغفار شفق) د کاپیسا ولایت مرستیال وټاکل شو. چې د شهادت تر وخت پورې په همدې مسؤلیت باندې پاته و .

شهید شفق به پخپله د دښمن سره په مخامخ جنګونو او عملیاتو کې برخه اخیسته او هم یې زیات وخت په سنګر کې تیروه، په دې وجه د کاپیسا ولایت په ټولو ولسوالیو کې یې د اشغالګرو پر خلاف د جهاد لیکې فعالې او منظمې کړې او د دښمن پر خلاف یې عملیات منظم کړل، د نوموړي بل کمال د مجاهدینو ترمنځ د اتفاق او یو والي ساتلو په باره کې و چې د مجاهدینو تر منځ یې تل د اتحاد او اتفاق روحیه جوړه ساتله، په دې لړ کې به یې ځان د مجاهدینو مشر نه بلکې د هغوی خادم او کشر ګڼه او هم یې د غرور، کبر او ریاکارۍ نه ځان په کلکه لرې ساته.

په روان جهاد کې کاپیسا ولایت یو له هغو ولایتونو څخه و چې د ښمن او مجاهدین پکې دوامدار د یو بل سره په مخامخ جنګ بوخت و، مولوي شفق به پخپله د مجاهدینو د عملیاتو قومنده په لاس کې لرله او د دښمن د حملو او چاپو مقابل کې یې په زړورتیا سره مقاومت کاوه.

د مولوي عبد الغفار شفق د هوښیارۍ، رازدارۍ او د ښه تدبر یوه بېلګه د هغو فرانسوي اتباعو تر پایه ساتل و، کوم چې مجاهدینو د یو ژورنالست په شمول نیولي وو، د فرانسې هیواد د ځواکونو په ګډون ټولو یرغلګرو هیوادونو د هغوی د خلاصولو لپاره ټول عصري وسائل استعمال کړل، خو بیا هم موفق نشول، څنګه چې په کاپیسا کې لوی شمیر فرانسوي ځواکونه میشت وو او هغوی دوامدار د جاسوسانو او پرمختللې ټیکنالوجۍ په واسطه ټوله سیمه څارله او د خپلو اتباعو په موندلو پسې سرګردان وو، غوښتل یې چې د کوم قید و شرط پرته بندیان د طالبانو له منګولو څخه خلاص کړي او په سرونو یې هیڅ کومې معاملې کولو ته حاضر نشي. خو شهید شفق په ډېره زړورتیا او تدبیر سره هغوی تر هغه پورې خوندي وساتل، څو چې د افغانستان اسلامي امارت لخوا یې د فرانسې حکومت سره د تبادلې په صورت د قناعت راتلو وروسته د پرېښودو امر نه و شوی.

مجاهدینو او عام ولس سره هم د شهید شفق مولوي صیب رویه ښه او د کریمانه اخلاقو نمونه وه، هر مجاهد او عام تن سره په ورین تندي مخامخ کیده او په قانع کوونکې نرمه لهجه یې خبرې کولې، په کارونو کې د عجلې پر ځای یې د ښه غور او دقت نه کار اخیسته، پخپله کم غږیده خو د نورو یې د ډېرو خبرو اوریدو زغم لره.

د امارت د مشرانو یې په کلکه اطاعت کاوه، هیڅکله یې له هغوی څخه سرغړونه او خپل سري نه کوله، هغه مجاهدین چې په اطاعت کولو کې به کمزوري او یا به یې قصداً خپل سري کوله، نوموړي به هغوی ته په نرمو الفاظو توصیه کوله ور ته یې د مشرانو د اطاعت کولو ګټې بیانولې، په دې علاوه خپل شخصي کردار یې هم د ډاډ وړ و، عابد و، پرهیزګار و ، د عظیم الشان قرآن تلاوت کوونکی او تهجد ګذار و، د ملګرو او مجاهدینو ترمنځ د مقبولیت او رعب نه برخمن و.

مولوي اظهار الله ایوبي چې د شهید شفق سره یې یوځای کار کړی دی وایي: ما په ټوله موده کې شفق مولوي صیب چاته په غوسه او د بدو ردو په ویلو ندی لیدلی، د ډیرې لوړې حوصلې او پراخې سینې څښتن و، کله نا کله به یوه نیمه داسې پېښه رامنځته شوه چې ما به په هغه کې له نوموړي څخه د سخت غبرګون تمه درلوده، خو چې کله به موقع راغله، نوموړي به خپله حوصله قابو

کړه او په ښه توګه به يې هغه لانجه حل وفصل کړه، د نوموړي د همدې حکمت عملي په نتيجه کې به زياتره مشکلات په خير سره پای ته رسيدل.

مشهور مجاهد قاري صيب احسان الله بريال چې نه يواځې په کاپيسا کې يو منلی مجاهد او مشر دی، بلکې په پروان، پنجشير او شاوخوا نورو منطقو کې هم د مجاهدينو ترمنځ د يو بيساري مخلص، فداکار او مجاهدينو د خادم مشر په توګه شهرت لري، شهيد شفق ورسره د کاپيسا ولايت د مرستيال په حيث اوږده موده جهادي خدمتونه سر ته رسولي دي، قاري صيب د مرحوم په اړه خپل تاثرات داسې بيانوي:

محترمو ورونو! بيشکه شهيدان ټول د الله ﷻ خاص دوستان دي او هغوی د خاصو امتيازاتو او صفاتو په لړلو خدای پاک ځان ته ور غوښتي دي، د تيرو شلو کلو په موده کې چې څومره شهيدان شوي دي، يقيناً ټول پاکان او مقدس خلک وو، د هغوی له ډلې نه شهيد مولوي عبد الغفار شفق هم و، چا ته چې الله ﷻ داسې ښه صفات او غوره اخلاق ورکړي وو، چې نن سبا هغه په ډيرو کمو خلکو کې پيدا کېږي، د جنګ په ميدان کې به چې تا کوت، داسې به ښکاريده چې ور څخه بل شجاع او زړور نشته او ملګرو سره دده سلوک ته به چې مورږ کتل نو دا به مو انګيرله چې تر ې بل پرهيز ګار او نيک خويه انسان نشته او د ولس سره په رويه کې تجربه کار قومي مشر ښکاريده، د ايمان داری، حيا او اطاعت خو يې پوښتنه مه کوه.

زما به يې دومره زيات اطاعت کاوه چې اکثر به ماته له ده حيا کېده او ما به ورته سم کتلی نشول، پخپل مسؤليت کې بيساري مخلص او فعال و، په ټوله موده کې تر ې چا شکايت نه و کړی، څنګه چې ما پخپله کارونو ته ډيره رسيدګي نشوای کولی، خو دده په شتون کې مې هيڅ کله هلته خپل کمی نه و محسوس کړی او نه زه ديته اړ شوی يم چې ورته مې له لرې څخه لارښوونې ورليږلې وې چې داسې... وکړه او هغسې... مه کوه، ټول کارونه يې په ښه شان او بصيرت سره سرته رسول او ما به ځان د دوی يو نماينده ګڼه چې د دوی ضرورتونه به مې مشرتابه سره شريکول، په سنګر کې د صبر او استقامت غر و، کله يې هم ما ته دا شکايت ندی کړی چې زه سنګر کې تنګ يم او غواړم چې درشم، همدا راز په دا دومره وخت کې يې راته دا شکايت هم ندی کړی چې دلته مورږ د مختلفو مشکلاتو سره مخ يو، د مهماتو او يا پيسو د کمښت سره مخ يو، که سوګند وکړم هم ان شاء الله حانث به نشم چې د شهادت تر ورځې يې ماته دا ندي ويلي: چې راته دومره پيسې پکار دي، يا مې ملګرو ته ضرورت دی، حال دا چې خامخا سړی چې مسؤول وي، هغه ته ضرورتونه پيښېږي، ملګرو ته يې ضرورتونه پيدا کېږي نو ما به که خپله څه ورکړل، وربه مې

کړل، ده به يې خپله غوښتنه نه کوله، نو په شهادت يې مورِ ويارو، البته په بيلتون يې زمورِ ملګري بې سيوري شول اګر که دا نن د دوی د شهات په برکت سره د مجاهدينو بريالوي او فتوحات په تيزۍ سره روان دي او د فرانسويانو په ساتنه کې يې تر پايه چې کوم کردار ترسره کړ هغه د هيرېدو وړ ندی.

دا چې شفق مولوي صيب د خپلو کارنامو او صلاحيتونو په وجه د ښمن ته قوي مطلوب و، نو ورپسې يې جاسوسان ګومارلي وو، څو نومورې پرلپسې تعقيب کړي، بالاخر د جاسوسانو له لارې يې په ۱۳۹۳ کال کې د جدي په ۲۴مه چې د ۲۰۱۵ زکال د جنوري د ۱۴ مې نيټې سره برابره وه، د تګاب ولسوالۍ پسنګړۍ په سيمه کې دځلورو نورو ملګرو(هر يو پنبتون خطاب، معلم زکريا شاهد او دوه نورو مجاهدينو) سره يوځای په شهادت ورساوه، انا لله و انا اليه راجعون.

مولوي عبد البصير چې يو خپله زړور او تجربه کار مجاهد دی او اوس په سترګو باندې معذور شوی دی، هغه هم څه وخت د شهيد شفق سره يوځای په سنګر کې ملګرتيا کړې ده نومورې وايي: شهيد مولوي عبد الغفار شفق يو داسې څوک و چې يقيناً د جرئتمند او زړور مجاهد لقب ورته ورکول پرې ارزي، هغه وايي: يوه ورځ مورِ د تګاب په يوه سيمه کې يوځای ناست وو، فرانسويانو ټانګ غره ته پورته کړ او مخامخ يې په مورِ د هغه ميل را وګرځاوه، نور مجاهدين يو خوا بل خواته خواره شول او زه خپله د يوې ونې ډډ ته کيناستم او شفق شهيد چې په کوم ځای مخکې ناست و، هم هلته پاته شو، ما ور نارې کړل چې مخامخ ټانګ دې وينې، يو خوا تېرې ته کينه: خو ده ماته ويل : چې ته ځان يو خوا ته کړه، هسې نه ټانګ ډز وکړي ما ويل: زما مخکې ونه ده او زه د هغوی نه پناه يم، ليکن ته ور ته په سپين ميدان ناست يې، له دې ځايه اخوا شه، نو زه شوم که دی، له هغه ځايه پورته نشو او تر پايه هم هلته ناست و، څو د مجاهدينو مورال قوي وساتي، مولوي صيب عبد البصير وايي: د مخامخ جنګ پر مهال دومره با استقامته انسان و چې ترپايه يې په مورال کې کمزوري نه راتله که هرڅو مره سخت جنګ به و، دده مورال به نه کمزوری کيده، ما ډير کسان ليدلي چې د جنګ په پيل کې ښه قوي مورال لري، خو چې هرکله جنګ اوږد شي ، مورال يې کمزوری شي او شهيد شفق به نه يواځي د جنګ په پيل کې قوي مورال لره، بلکې تر پايه يې مورال کې فرق نه راته او نه يې داسې کوم حرکت کاوه چې هغه به د نورو مجاهدينو د مورال پرېوتو سبب کيده.

په پای کې شهيد مولوي عبد الغفار شفق رحمه الله ته د متعال څښتن څخه د خپلو ټولو جهادونو او قربانيو د قبوليت او په بدل کې ورته اجرونه غواړو او هم يې بيرته پاته کورنۍ، ملګرو او لارويانو ته د جميل صبر توفيق غواړو .

روح يې ښاد اويادِ دې يې تل وي.

په قربانیو او جهادي تخنیک میناتوري شوی

د دوحې ټرون د برم څلی !!

سعد کټوازی

د کب لسمه چې د تېر ۲۰۲۰ زېږدیز کال فروري له ۲۹مې سره برابره وه، د افغانستان د معضلې د سیاسي هواري له مخې له پرلپسې ۱۸ میاشتو مذاکراتو وروسته د قطر هېواد پلازمېنه دوحې کې د طالبانو او امریکا ترمنځ ستراتېژیك او تاریخي ټرون لاس لیك شو او اوس د افغانستان او افغانانو د ۴۰ کلنو سرښندنو، اتلولیو، ځاني او مالي ایثار او فداکاریو، دردونو، هجرتونو، سترو ستومانیو، خوښیو او غمېزو، د پردیو او د دوی د مزدورو چوپړیانو له لوري جنایاتو، وحشتونو، شکنجو او زندانونو، تری تمونو او تور تمونو، ناورینونو، نادودو او ناخوالو، مرګونو او ویرونو، بلا ځاني او مالي زیانونو، ورانو ویجاړو، د بېلابېلو طبقو ډېر ډولونه خلکو، خپلواکو-بلواکو-ازادو- غلامو څېرو، پر یو مهال هر ډول ښو او ناوړه تجربو، مثبتو او منفي شرائطو، څو جلا زمانو او عصرونو، د ګرمې او سړې دواړو جګړو او د هغو د مادرنو او په ټیکنالوجي پوښلو وسائلو او وسائطو، حربو او تکتیکونو، د کمونیزم او امپریالیزم نړیوالو امپراطوریو او ګنو امپراطورانو د جګړې-سولې او بیا په دواړو کې د ماتې خورا اوږده درست داستانونه ټول د همدې (د کب لسمه/دهم حوت) تر ټکي لاندې دي چې د کورنیو او نړیوالو جګړو، سولې، تقابل او تعامل د پرېکړو د یوې اصولنامې او د سختو معماوو او ټکو د حل د یو قاموس حیثیت لري او له املې یې دا د افغاني او اسلامي تاریخ د یوې ستراتېژیکې بریا ورځ ګڼله کېږي.

د دې تاریخي ټرون که څه هم یو ارخ نړیواله بدنامه او مکاره امریکا وه، خو د ویار ځای دا چې پکې د همدغې امریکا د غرور هغه نښلی بشپړه ماته شوه چې پر ۲۰۰۱ زېږدیز کال د جګړې له ژبې سره پرې افغانستان ته سپره راغلې وه او د تنزل تر یو ستر ګړنګ لاندې ولوېده، له یوې خوا د نړیوالو قوانینو او حقوقي اصولو له مخې پرې د افغانستان ۱۸ کلنه جګړه تاوان شوه او له بلې خوا یې د شاوخوا ۳۰ مطرحو هېوادونو

لوړوپورو چارواکو او نړیوالو سازمانونو پر وړاندې په افغان جګړه کې هر اړخیزه ماتې وخوړه، ویې منله او لاسلیك یې کړه.

ورسره یې طالبان یو سیاسي ځواك، د افغانانو جګړې ګټنې او له نړیوال یو قطبه صلیبي بلاك څخه ازادي او خپلواکي اخیستل یې هم په رسمي ډول ومنل، لاسلیك یې کړل او افغانان یې یو تر ټولو باشهامته او د خپل دین، هېواد، ولس او ارزښتونو په لاره کې یو سرښندونکی او د نه ماتېدونکي هوډ لرونکی ملت ومانه او وځلاوه چې له یادې ماتې وروسته دا هم په خپل ځان کې د امریکا نړیوال برم او یکه تازی ته تر ټولو ستر ټکان و.

افغانستان کې د امریکا د جګړې د پیل شېبو کې د امریکا د یکه تازی او نړیوال برم دا حال و چې تر را لاندې دوهم، درېیم او پینځم هېواد یې هم رېږداوه، حتی چې کله یې تبلیغاتي څادر پر ځان وا چاوه او بوش ډاګیز اعلان وکړ چې یا له مورِ سره او یاترهګر... له ټولو وړاندې همدغو هېوادونو یې له وېرې د یو قطبه نړۍ تر ټولو ستر بلاك تشکیل کړ، هو! ځینې د امریکا رقیبو هېوادونو یې ښایي د دې ترځنګ د زور اوبه کولو لپاره دلته د هغې ښکېلتیا غوښته چې لاس یې ور کړ.

خو طالبان چې په مادي لحاظ یې امریکا له مچې ګوتې لا نشوه نیولای، په معنوي او ایماني زور یې تر څټ ونیوه، ښکېله یې وساتله او بیا یې له هغې څخه د ټولو ډارېدلو هېوادونو په مخکې را وپرزوله، د ماتې رسمي لاسلیك یې هم د دوی په مخکې تړې واخیست، د امریکا د یکه تازی او نړیوال برم خوبونه یې بې تعبیره احلام او د تبلیغاتو پر مټ اوبه ځلول شوې خټه ثابت کړل، پر منفورې امریکا د هغو ټولو هېوادونو او ولسونو زړونه یخ او هم پرې ور زړور شوي چې د وېرې له امله یې ورسره په افغان جګړه کې اشر کړی وه، په لاپوشاپو یې تېروتلي وه او په دې جګړه کې مالي او ځاني زیانونه ور اوښتي وه او د دوحې ټرون په دې ټولو او ډېرو نورو حقائقو وروستی مهر او مېخ شو.

په افغانستان کې د امریکا د جګړې لکه څرنګه چې موخې او ګټې له پیله لا مبهمې او نامالومې وې او وروسته یې بیا د اوږدېدو سربېره دغه ابهام هم دومره ژور لاړ چې جګړه بشپړه بې ګټې او یوه تېروتنه وبلل شوه، اوس یې د پایلې په توګه لاسته راوړنې هم همغسې مبهمې او نامالومې دي چې یواځې یادونه تړې کېږي او بس، خو که همدا د دوحې ټرون سم عملي شي، نو له پیله تر پایه جګړې، لاسته راوړنو او ښې یا بدې پایلې څخه به د دغه غولونکي ابهام پرده پورته او هر لوري او ټولو ښکېلو کړیو (چارواکو، هېوادونو او ولسونو) ته روښانه او پاتې لاره وهل اسانه شي او د همدې ټرون د عملي کولو په هنداره کې به د جګړې او سولې دواړو پر ډګر سلامت او ملامت، ګټې او زیانونه، ګټونکي او بایلونکي، ښې او بدې پایلې، لاسته راوړنې او له لاسه ور کونې، موخې او هغه چې د جګړې په لوګیو او لوخړو کې ور رسېدلي بشپړ څرګند او ولیدل شي.

له دې پرته به ګرانه وي چې آن طبیعي ګټې او زیانونه سره جلا او توپیر یې وشي، پرتله او بیا د ګټو یا موخو ته د رسېدو تله درنېدل خو لیري خبره، نو بیا لکه چې له پیله یې جګړې ته ناڅېزه پلمه کړې وه،

اوس هم امریکا اړه ده هغه څه د لاسته راوړنو په توګه په ګوته کړي چې په هیڅ نه ارزي او یاهم په واقع کې د امریکا زیان وي، خو هغه یې لاسته راوړنې تلقی او پر ځوړند اورمېږ د وتو لپاره پلمه کړي، بیا به امریکا دا هم مني چې دا دومره لوړې بیې یې د همدې ناڅېزه او یا واقعي زیان پرېکړې دي چې اوس یې د تېښتې لپاره بهانه کوي او په دې سره به یې نور هم حتی په کور دننه لا خپل باور زیانمن او له ولسونو سره لاس او ګریبان کړي، نو ځکه د دوحې تړون که له یوې خوا د ځواکونو ابرومندانه وتل دې، له بلې خوا یې نړۍ او ولسونو ته هم یوه د ختې پوزه تشکیلوي چې تمه ده پرېوتي حیثیت ته یې تر ډېره بېرته ښکلا ور کړي.

د دوحې تړون د هغې مذاکرې له مخې چې طالبانو یې وړاندیز کاوه، خو امریکا ترې چورلټ انکار کړی وه، د امریکا له هغې ماتې وروسته چې خیال یې نه کېده او د هغه وړاندیز پایله وه چې پکې امریکا له طالبانو د مذاکرې او سیاسي حل غوښتونکې شوه او عادتاً په جګړه کې مات لوری یې بریمن هغه ته کوي، دا هرڅه هغه وخت ممکن شول چې د جګړې له لارې امریکا د طالبانو د لومړني وړاندیز پر اهمیت وپوهېده، اوس یې ځمکنیو واقعیتونو ته پر کتو هغه خپله اړتیا وګڼله او اخېر یې هم بېرته د هماغه مذاکرې له لارې دوحې تړون او ځان ایستلو ته ځان برابر کړ چې نه یې منله، دا چې د سرټمبه چارواکو درایت خورا لږ وي، امریکایان په هرڅه ډېر وروسته پوهېږي چې له امله یې پر لوی لاس ګڼ لومړیتوبونه له لاسه ور کړي او لا هم یې ورکوي.

جګړه کې بریا او بایلنه یې د هغې د موخو ترلاسه کولو یا بایللو کې وي، نه سیال ته د همدې جګړې په ډګر زیان اړولو او د ځان په پرتله یې زیات زیانمونولو کې، هو ! کله چې د جګړې موخې همدغه جګړه او ور کې کارېدونکي توکي وي، نو پکې ماتې او زیان هم د بایلنې مانا لري، قدرت، د وسلو بازار موندنه، اقتصادي وده، دیموکراسي-فحشا-بې دیني خپرول، د ځوانانو فکري انحراف، پر نړۍ راج او... د امریکا ښکاره او ځینې نوري پټې موخې وې چې پکې د زیانمنېدو له امله نن امریکا ماته ده، برعکس د افغانانو/طالبانو د جګړې موخې د هغې پر ډګر له لاسته راوړنو یاهم زیانونو سره په خورا توپیر کې وې/دي، په جګړه کې له بلا مادي زیانونو لیدو سره یې بیا هم د جګړې موخې خوندي وې/دي او دا دی چې د جګړې موخو ته په رسېدو دي له زیانونو سره سره یې پکې برېمن دي.

همدارنګه د سوله ییز حل او مذاکرې وړاندیز ماتې خوړلی لوری کوي چې هم د جګړې موخې او هم یې ډګر وبایلي ترڅو یا د جګړې موخې پکې لږ تر لږه/هسې د تومنې په اندازه ترلاسه کړي او یاهم یواځي له جګړې د ځان ایستلو لاره پیدا کړي، د سوله ییز ماموریت د پیل پر مهال هم شرائط داسي وه چې پکې امریکا د جګړې ډګر او موخې دواړه بایللي او اوس یې طالبانو ته د مذاکرې وړاندیز کاوه، له افغانستانه په روغ سر د ځواکونو ایستل او د جګړې له امله زیانونو مخنیوی یې تر هغو ګټو ډېر مهم باله چې د افغانستان په اشغال کې یې اټکل کړې وې، خو تر لاسه یې نکړې او د دې لپاره یواځینۍ هغه لاره چې امریکایي چارواکو درلوده له طالبانو سره مذاکرات ول چې په ترڅ کې یې دوحې تړون را منځته شو.

که د دوحې له تـړون وړانـدې ۱۸ کلنـې جګـړې ښکاره، پټو او اټکل شویو موخو ته ژوره کتنـه وشي او بیا هغو وختونو او شرائطو ته سر ور ښکاره کـړو چې په لومړي ځل د خلیلزاد په مشرۍ د امریکـا سـوله ییـز ماموریت پیل کېده، نو وبه وینو چې د امریکا د جګړې موخې ډېر هغه څه نه و چـې وروسـته پـېښ او ولیـدل شول/لیدل کېږي، شیخ اسامه رحمه الله خو لـومړی د دې جګړې هسې پلمه او بیا یې مړینه هم یوه افسانه وه او لا تر اوسه څرګنده نه ده چې ربښتیا شهید کړل شوی او که د ورپېښـو رنځونو ښکار شو، لـه بلـې خـوا لکـه چـې د امریکایـانو د جګـړې اټکـل ناسـم ثابـت شـو، وخت پـر وخـت تـاکلې سـتراتېژۍ یـې مـاتې شـوې، څرګندو موخو ته پـه رسـېدو کـې یـې پـاتې راغلـل او طالبـانو تـرې پـه خپلـه ګټـه وځرخـولې، همـداسې د جګړې واقعي موخې یې هم نه دې ترلاسـه کـړې، کـه ډېرې کمـې یـې ترلاسـه کـړې هـم وي، خـو نـور یـې نشـوې ترلاسـه کـولای او لـه جګـړې ور اوړېـدونکي زیانونه هم جلا لامل و چې له طالبانو سره د مـذاکرې مېز ته را وړاندې شوه.

د جګړې بایلل په هغې کې د شته زیان نه، بلکې د هغې موخې له لاسه ور کول او بیا مـذاکره د همـدې ماتې خورلې او جګړه بایللې لوري وړاندیز وي، په دې مانا چې د جګړې د موخو او ډګر بایللو له امله هغه له صـحنې د ځـان روغ ایسـتلو لپـاره دېتـه اړ وي چـې د مذاکرې وړاندیز وکړي او له همـدې لارې لـه صـحنې په روغ سر ووزي، له طالبـانو سره جګـړه او بیـا سـوله کې امریکـا پـه همـدې موقـف کـې وه، د امریکـا لـوړ ارزښتونه نړیوال برم، د لومړۍ رتبې اقتصاد، یکه تـازي او پر نړۍ راج ګټل کېږي چـې لـه طالبـانو سره جګـړه کې یې دې ټولو ته د پام وړ زیان واوښت، لـه دې پرتـه هغه لوی او واړه زیانونـه یـې هـم مـلا مـاتونکي و/دي چې د یادو ارزښتونو په پـار یـې اوږه ور کـړې وه، نـو ځکه د ځواکونو ستنول او افغان جګړه پای ته رسول د امریکا اړتیا وه او د دوحې تړون یې تحقق تضمینوي.

خو بر عکس د طالبانو د جګـړې مـوخې، دیـن، هېواد، ازادي، خپلواکې، مـلي ګټـې، اسـلامي او مـلي ارزښتونه له بلا مالي او ځاني قربـانیو او ګنـو زیـانونو سربېره خوندي دي چې له امله یې د افغانانو په مشرۍ طالبان په جګړه کې برېمن او زیانونه یې د ماتې په مانا نشي تعبیرېدلای، بلکې د یوې سـترې بریـا پـه توګـه د کب لسمې د دوحې تړون د برم ځلی د الله لـه نصرت وروسته د افغانانو پر همدې قربانیو، لیـدلو زیـانونو او جهادي تخنیک میناتوري شوی.

د دوحې تړون چې د اسلامي تاریخ په اوږدو کې د دوهم نړیوال غربي ستر ائتلاف پـه تـابوت وروسـتی مېخ شو، که له یوې خوا یې د تاریخ په ځانګړې مقطع کې صورت ومونـد، له بلـې خـوا د یـاد سـتر ائـتلاف د ماتې رسمي سند شو چې دا په خپـل ذات کـې د هغـه اهمیت جوتوي او بیا همدې تړون خورا زیـاتې لاسـته روانې هم درلودې او لا به یې د بشپړ عملي کېـدو پـه صورت کې ولري او ان شاءالله د دې امیـد ډېـر زیـات غښتلی دی چې ګران هېواد افغانستان او درونـد ولـس مو پرې د جګړې له ناخوا د وتو ترڅنګ د نړۍ په کچه یـو مطـرح او لـه هـره اړخـه بدایـه اسـلامي هېـواد او ربښتونی مسلمان ولس وپېژندل شي.

وما ذالك على الله بعزيز

د خپلو دوو تنکیو

زلموټو شهیدانو ورونو

له ویاړونو ډک ژوند ته کتنه!

قاري رحمت الله ضعیف

هغو ځوانانو ته چې د خپل مستقبل لپاره اندیښمن؛ خو د لاس تر زنې کینستلو پرځای له حوادثو سره د ټکر اراده او همت لري، هغو تنکیو زلمیانو ته چې جذبې لري، همت لري، هغو غیرتي مظلومانو ته چې د وطن او پر وطن د سرلوړي ژوندانه ارمانجن دي، هغو زلمو ته چې حریت، آزادي او خپلواکي یې د زړه هیله او د ضمیر ارزو ده، هغو اتلانو ته چې د غلامۍ تر زر کاله ژوند د خپلواکۍ یوه ورځ ورته زیات ارزښت لري، هغو پرګنو ته چې له مهده تر لحده د خپل ایماني غیرت او میړانې په سکونو د دین،ننګ او ناموس د استعمارګرو غلیمانو د کرغیړنو خولو د ماتولو په تکل د ژوند هره شیبه سرګردانه او لا لهاند تیر وې؛ همدغو توریالو زلمو ته هغه نورسه ځوان شهیدان ور پیژنم چې د ورک سباون په تمه د تور تمونو په ښار کې د یوې تټې وړانګې د خپلولو په تکل یې خپل هسک سرونه داو او ځار کړل، دا د یوویشتمې پیړۍ هغه تنکی زمری و چې یو پټ غلي احساس پرښنبسودل تر څو د ارام او سکون ساه واخلي ، همدې مرموز احساس تل د دغو پتنګانو خام بدنونه په الهې بله شمعه کړل، تر دې چې کباب یې کړل، دغو اتلو شهیدانو به د حال په زبه دا شعر زمزمه کول:

«یو پټ غلی احساس دی چې ارام مو نه پرېږدي، په اور مو کړوي لکه چې خام مو نه پرېږدي»

د دې میړنو له قطاره لومړی د شهید سعید ملا سید احمد جان«اسرار» د ژوند په حالاتو درسره غږیږم!:

«زوکړه يي»: شهيد ملا سيد احمد «اسرار» د خير محمد اکا زوی د عبدالرحيم بابا لمسی له نن څخه «۲۸» کاله وړاندې، په سپوږ ميز۱۴۱۶ کال کې چې له لمريز۱۳۷۳ سره برابره وه د غزني ولايت قره باغ ولسوالي د شيرادين خيلو په نوم کلي کې په يوه دين دوسته او جهاد پاله کورنۍ کې د خپل کور په غولي دې نړۍ ته سترګې پرانستلې، د الله جل جلاله د وحدانيت، د رسول الله صلی الله عليه وسلم د رسالت او د اسلام د سپيڅلي دين د متابعت درس يې د خپلې مهربانې مور د غيږې له مدرسې څخه په رګونو کې وڅيښل، کله چې يې په خبرو پيل وکړ، همدا درس خپل نيک پلار په مغزوکې ور محلول کړ.

«زده کړي»: اسرار جان لومړنۍ زده کړي خپل کلي ته نزدې د سيمې د مشهور جيد عالم الحاج مولوي محمدعمر «ابوادريس» صاحب په مدرسه جامعه تعليم القرآن والحديث کې دخپل ورور مولوي محمد اکبرځخه ترسره کړې دي. د کورنۍ دمالي ستونزو اوپه دنيوې کارونو د بوختيا له امله يې زده کړې نيمګړې پاته سوې.

«اخلاق» اسرارجان د ښو اخلاقو نمونه ؤ،همدا وجه وه چې په مورکۍ او ټولو وروڼو او خويندو ډير زيات ګران ؤ، مورکۍ به له ډيره نازه: سړُو«سره زر» باله.ورين تندی،نرۍ مسکا،متبسمه څيره په هرحالت کې ور سره مل وه، دهرمشرغوصه او نصيحت ته يې د شوندو په نرۍ مسکا ځواب ويل.اسرارجان چې په کومه سيمه کې د فرد ياسرګروپ په صفت جهادي خدمت کړی: دهغې سيمې اوسيدونکي او دګروپ ملګري يې د ښې ګزارې،حسنه خويونو او بې ساري ادب کيسې کوي.

«**جهادي جذبه**» اسرارجان سره له دې چې دکورنۍ خدمت او دهغوی لپاره دنفقې پيداکولومسئوليت يې په غاړه ؤ؛خو له جهادسره دزياتې مينې په وجه يې دا هرڅه شاته پرښودل،له اتل شهيدحافظ مولوي نصيراحمد«خباب» او دهغه له معاون مولويصاحب محمد خليل «شريف» {تقبلهما الله} سره يې شناخت اوملګري پيل کړه،او دژوندتراخيرنۍ سلګۍ پورې يې کله دفرد اوکله هم دسرګروف په صفت له دغه سپينوشخصيتونوسره دغه سپيڅلي ملګرتيا ترلې وساتله .اسرارجان له رب.جل جلاله. او د اسلام له سپيڅلي دين سره ډيرمخلص ؤ، دنوموړي د اخلاص لويه نښه داوه چې مريض ؤ، د يَنې«اِيني»عمليات مو ور وکړل، له روغتون څخه کورته راغلو يوه اونۍ وروسته بيرته ډاکترته د زخم او عملياتو د ټکونو دپرېکولو لپاره ورغلو،ټکان مو پريکړل ډاکترورته د پرهيزتوصيه کوله ماورته وويل: ډاکترصاحب اسرارجان وطن ته کورته ځي زه ورته وايم مه ځه چې ليږ نښه سې بيابه ولا ږسئ، خودَی نه پاته کيږې، ډاکترهم زماخبره

تائدکړه ورته وې ویل مه ځه، خواسرارجان په ځواب کې ورته وویل ډاکتر صاحب! په موټرسیکل به سپریږم تاوان خو نکوئ؟ ډاکتر ورته وخندل، ماورته ویل: ډاکترصاحب دَي مجاهد ده ګروپ ته یې تلوارده،پدغه حال کې مې لیږپه تونده لهجه ورته وویل: دا ته ځنګه سړی یئ زه او ډاکتر دپرهیزخبري درته کوو ته پرموټرسیکل سپریږئ! اسرارجان زماغوصه او د ډاکترخبره په نرۍ مسکاځواب کړه، ډاکتر ماته مخ راواړول وای:قاري صاحب مه یې کوه د ده داسې شه د مؤمن رنګ ده.ترشهادت څوشپې مخکې دریم ځل کوټې «کوئټې» ته دتداوې لپاره راغلی ؤ،کله چې موله ډاکتره دواء را واخیستله کورته راغلو،راته ویل یې:اغا! زه به سهارکورته روان سم! ما چې هرځومره زارۍ اومنت ورته وکړ:چې پاته سه دا دوا وخوره لیږبه ښه سې اوس خوراغلی یې او د ګروپ نوبت دې هم تیرکړی ده،بس له لیږخاموشې اومسکاوروسته به یې راته وویل: نه ولاړبه سم دواء به دورې وخورم .لنډه داچې ولاړ او دا مو وروستی دیدن وو.

«زخمي کیدل» اسرار جان د جهاد له پیل نه بیا د شهادت ترورځې په ډیروغټو او وړوجنګونوکې ګډون کړی،د دې جهادي خدمتونو په جریان کې ترشهادت مخکې دوه ځله ټپي شو:یوځل دقره باغ ولسوالۍ د«خونیانوکلی» کې ،دوهم ځل دریګچې په نوم قرارګاه باندې د ځپونکی بریدپه ترڅ کې.

«شهادت» «۱۴۴۰»سپوږمیزکال د روزې مبارکه میاشت وه د هفتې ورځ وه،غالبا یوه بجه وه مولوی صاحب نوید او مولوی صاحب عابر مې کورته را غوښتي وو،دمجاهدینولپاره یوې خوا ته په اعانه «چنده» پسې تلو،مولوي نویدصاحب ترعابرصاحب مخکې راغی دخبروپه جریان کې یې راته وویل: قاریصاحب! چې دچاخپلوان شهیدان سې یاخپله شهیدسې ډیرخوندبه کوې؟ماورته ویل:مابه هروخت خپل والد ماجدته ویل:موږچې له ملګروسره په ګروپ کې ولاړسوو ته ولي خفه کیږئ او ولئ خوشکې کوئ!؟ الحمدلله یوولس زامن لرئ یو خو په زکات کې هم درباندې فرض ده چې دالله تعالی په لاره کې یې قربان کړئ!.نویدمولویصاحب وویل ستاقبله ګاه صاحب د زامنوزکات نده ورکړی؟ ماورته وویل: نه کله یې ورکول،درې څلور وروڼه موبندیان او زخمیان سوو،شهیدخویوهم نسته! مولویصاحب نویدوویل: تاته داخبره خونددرکوئ چې دوروڼوزکات دې ووزي؟ ماورته کړه: هو ولي نه!نوموړي راته وویل نوستا والد دزامنوزکات ایستلی ته نه یې خبر! ماووویل:کله کومه ده! نویدصاحب وویل: بس نو اسرار جان شهید سوی!ما د استرجاع کلمه وویله، دې وخت کې عابرصاحب هم را ورسید دوی دواړو دتسلیت الفاظ وړاندې کړل،

لږوروسته مي ورور ټليفون راته وکړداسرارجان د شهادت مبارکې مويوبل ته وويله، ما دموركى دحال پوښتنه ځينې وکړه، ورور وويل داده خپله خبردرسره کوي، مورکى ډيرپه دلاورې غږ راوکړ مبارکې او تسلې يې راته وويله،ما هم په جواب کې دتسليت مراتب وړاندې کړل،د مورکى زړورتوب مې ډير خوند راکړ په شکرانه کې مې له سترګو د اوښکوباران پيل سو،تردې چې ملګرو راغږکړقاري صيب څه کوئ!؟ ماوبل دموركى ټليفون ده. له عبيده وروره مي پوښتنه وکړه!اسرارجان:کله،څنګه او چيرې شهيدسو؟ هغه د اسرارجان د ملګري له خولې داسې کيسه راته وکړه: دروزې مبارکې مياشتې څلورمه د پنجشنبې ورځ؛ چې شپې ته جمعه وه، اسرارجان له خپل ګروپ سره ولسوالي ته نزدې دملاخيلوکلي په مسجدکې اړولې ؤ، تقريبًا مازديګر نزدې ؤ،ما فاتح عمرته يې ويل راځه مهر وردارته ځو دځه کارلپاره.بس دواړه روان سوو. په لاره کې دميرصاحب«رحمه الله» زيارت ته چې نږدې شو د دښمن له کمين سره مخ شوو په موږ يې پيرونه پيل کړل موږ له موټرسائيکله ورته ښکته سوو،جنګ شروع سو.ليږ وروسته د اسرارجان کلاشينکوف بند سو، او ورسره هَم مَهاله په ثقيل ولګيدو په ځمکه راپريوت دوه ځله يې سلګى ووهلې نور يې روح خپل حقيقې مالک ته وسپارله.له ما سره کلا شينکوف ؤ خوچانټه راسره نه وه.

نوموړى تنکى زمرى کيسه کوي؛چې کله مې د خپل کلاشينکوف مرمى پردښمن خلاصې کړې نو مي اسرارجان ته ورمنډه کړه دهغه له چانټې مې جاغور«شاجورونه» را اخيستل او ترمابنامه پورې مې مقاومت وکړ. وروسته نورملګري را ورسيدل کمين مات سو. خو اسرارجان په مبارکه مياشت، مبارکه شپه او دالله تعالى په لاره کې روزه په خوله په مظلومو وينولړلى دشهيدپه ويارلي نوم د «٢٦»کالو په عمرله دنيا رخصت سو،الله تعالى ته اميد او تمنا لروچې قبول سوى به وي.نحسبه کذالک والله حسيبه.روح يې ښاد،يادي تل،لاريې له لارويودکه.

«مدني حالت» اسرار جان متأهل ؤ، څلورکاله يې د واده سوې ؤ خو اولاد يې نه ده پيدا سوى. په درنښت..

ما لا ګل بوی کړی نه و بهار تیر شو!

شهید سعید ملا عتیق الله جان «ابودجانه» درپیژنم

«زوکړه یې» زلموتی شهید ملا عتیق الله جان «ابودجانه» د مرحوم خیر محمد اکازوی د عبدالرحیم بابا لمسی د غزني ولایت قره باغ ولسوالي د شیرادینخیلوکلي اوسیدونکی له نن څخه «۲۶»کاله وړاندې په «۱۴۱۸» سپوميزکال کې چې له «۱۳۷۵» لمریزکال سره سمون خوري په یوه دین مینه ،علم دوسته کورنۍ کې دې فاني نړۍ ته سترګې رنې کړې، د الله جل جلاله. د وحدانیت، درسول الله.صلی الله علیه وسلم. درسالت او داسلام د سپیڅلي دین دمتابعت درس یې دخپلې مهربانې مورجانې د اللهُ: «اَلَلُو لَلُو» له غږه اوفطرته زده کړ.

«زده کړي»ابودجانه جان په لومړي ځل دشیراندړوکلي دمشهورنامتوعالم مولوي محمدعمر «ابوادریس»په مدرسه جامعه تعلیم القرآن والحدیث کې له الف - با-قاعدې څخه خپلې زده کړې پخپل ورور مولوي محمداکبرپیل اوبیاپه هیواد او ګاونډي هیواد پاکستان کې په بیلابیلو مدرسو اوحجروکې پر افغاني مشهوروسیمه ایزو استاذانویې دتکمیل تر درجې سبقونه وویل، نور ژوندورسره یاري ونکړه دپګړۍ ارمان یې قبرته له ځانه سره یو وړل،ابودجانه جان دشیرله مدرسې وروسته دځه وخت لپاره له خپل بل ورورمولوي آدم خان«عتیق» سره دکشته للیزو دکلي په مسجد، بیا دځه وخت لپاره له قاري مولوي عبدالستار«سیرت» صاحب سره، په ۲۰۰۹ م کال خروټ اباد، په۲۰۱۷ کې د کچلاغ په نورالمدارس کې طالب ؤ،

په ۱۴۴۰ کال کې په احسن المدارس مدرسه کې یې د غزني دآب بندولسوالۍ له نامتوعالم ګل حسن صاحب«دامت برکاتهم» سره شاګرد ؤ. همدا یې له فاني نړۍ اوعلمې مور وروستی کال ؤ، پدغه

کال يې هم کتابونه په نيمی کې پريښودل معسکرته ولاړ.

«اخلاق»ابودجانه جان الله.جل جلاله.په دنګه نری، چسته،بيداره ځوانی،له خندادکه خوله، خوشحاله تبعت،زړورتيا،اخلاص او ښو اخلاقو نازولی ؤ، دمشرورور داولاد سره سره ابودجانه جان زمونږ دکورد ناز او ساترې کوچنی ماشوم ؤ؛ ځکه به نوتراوسه پورې دکورټولونارينه اوزنانه وو له نازه: عتيق الله جان بلل اوپه ټولو گران هم ؤ.

«جهادي مينه» داطبعې ده چې هرزوی په ټول کورکې يواځي خپلې مورکی ته دزړه د رازونوغوټه سپړې، خاص بياچې هوښيار او ترټولو کشيراو وروستنی وي، ابودجانه جان زمونږکشرورورکی ؤ، دا چې لله الحمد کور مو دعلم اوجهادسره دمينې کورده ابودجانه جان هم دزده کړوسره زياته مينه لرله، او الله تعالی ښه ذکاوت اوذهن هم ورکړی ؤ،خوجهادي مينه يې پرزده کړواوسبق ويلوغالبه اوزياته وه؛داځکه چې سره له دې چې داسلامي امارت په جهادي صف کې ديوکس د ورګډېدلوپه شرائطو کې يوشرط ږيره لرل ؤ،خو ابودجانه جان به دې ته ډير ليوال اوتلښورونی ؤ،چې پدغه لغړزنې حالت کې دجهادصف ته ورګډ او مجاهد سې، زمونږ مور کی کيسه کوې چې ماته به يې پخپل مخ لاس تيرکړ او ويل به يې :موږې! کاش چې زرمي دا ږيره راسې،دغه دخداي - جل جلاله - دښمنانوته به دسړک په منځ کې له راکيټ سره دربړم او واربه ورباندې کوم،

ابودجانه جان هم الله تعالی په دغوشجاعانه صفتونو نازولی ؤ،له معسکره فارغ،دلا ئزر مسلکې،غيرتمن اوښه نښان ويشتو نکی ؤ،دلائزر سبقونه يې دوه ځله ويلې ؤ،د الله تعالی له دين،جهاد سره يې بې کچې مينه او اخلاص لرل

مورکی کيسه کوې چې:يو وخت ډيرې شپې کورته رانغی بل وخت چې راغی نوله ډيرې پرديسې مي په قهرجنه لهجه ورته وويل:ولي راغلئ ته خوزمازوی نه يې دشريف زوی يئ، دَی راته په خنداسو واې موږې ځنګه وکړم انقلاب ده.ترشهادت ځومياشتې مخکې راغی راته ويل يې: اغا ما دغنيمت يو څه روپی ساتلې دي موټرسائکل په اخلم؛ ځکه په جهاد کې چې له سړې سره خپل موټرسيکل نه وي، خيانت ځينې کيږي،ځکه کله ناکله سړی پخپل شخصي- کارپسي- ځې خو موټرسايکل د ګروپ ورسره وي،اوس ورونه راته وايي چې: داروپی مورږ ته راکړه مورږ ستا د کوزدې د ولور پور په ادا کوو! نو ستاځنګه خوښه ده زه خو دا روپی نه ورکوم! ماورته وويل: دا ستاخپلې روپی دي چې ځنګه دي خوښه وي هغسې وکړه! دوی ته يې مه ورکوه!.

«زخمي کيدل»ابودجانه جان په ډيروتعرضې بريدونوکې ګډون کړی ؤ،چې ځولوی

اومشهوريې د قره باغ ولسوالي د«خونيانو» کلي او زيات شميرپوستوپه فتح کې،په مقرولسوالۍ ،دغزني ولا يت په تاريخي لويه فتح کې اوپه قره باغ ولسوالي کې دمزدورې اردو دقرارگاه په فتح کې.د دې جهادي معرکو په دوام کې دوه ځلې ټپي سوی! يو ځل د مکتب په سيمه کې د غليمانو په قطار«کاروان» باندې په بريدکې د پيکا په مرمۍ پر تندې سر سرې ټپي سو،او دوهم ځل بيا د هوان د مرمۍ په پرخچو«پارچو» په لينگې دوه ځايه په بسته کې لگيدلې و، چې بيرته جوړ سو په خدمت يې پيل وکړ.

«شهادت» ۱۴۴۰/تم سپوږمیزکال دروژې مبارکه مياشت وه، مورکۍ مي وايي: د روزي په شلمه ورځ مي مولوي محمد اکبرته وويل: زه به په اعتکاف کې نه کښينم؛ ځکه عتيق الله جان شهيدکيږي، نو که زه په اعتکاف کې يم د سراى انگړ ته به نسم راوتلاي! او چې دى شهيد راوړې دا د کور زنانه به بيا بي صبري وکړي الله تعالى به ناراضه سي! هغه راته وويل: مورې ته بزرگه يئ چې عتيق الله جان شهيد کيږي؟ ماورته ويل: نه زويه! بزرگه نه يم خو زه چې د عتيق الله جان کړو وړوته گورم بس زړه او هډونه مي راته وايي: چې دا دزړه ټوټه ابو دجانه جان نور الله راځخه اخلې او شهيد کيږي.بس همداسي وسول ، د روزې اوويشتمه مبارکه شپه وه، سپوږمۍ مخ په رخصت وه، شپې خپل تور څادر غوړل،د اسمان ستورو نندارە کوله،د ځمکې پر مخ دوخت خالد«ابويوسف ادريس»او دعصربراءبن مالک «مولوي شريف» د يو ويشتمې پيړۍ دمسيلمة الکذاب پرزامنو دبريد تابيا نيوله،د دې پيړۍ دفرعون بي پيلوتې څاگروخونکارو الوتکودقره باغ پر فضاءغومبر وهل؛ترڅو خپل بچونې دوخت دزلموټو اتلانوله بريده وژغوري بلخوا ديوکلي دمسجد مخې ته راټولوشويو سرسپارلوزلمو له يوبل سره په غيږکې نيول په مخه ښه او دشفاعت وعدې يې سره اخيستې،د وخت براء شريف:ويل ملگرو:ډيره مبارکه مياشت او مبارکه شپه ده،که څوک شهيدان سول ښنه به سره کوو،اوبختوربه پدغه شپه شهيدکيږي، دامها ل دې بچې وي،د دښمن دالوتکو غږ خاموش سو، دوخت خالد ادريس«رحمه الله» په شريف غږکوي: همدا دبريد ښه فُرصت ده بسم الله کړه!شريف«رحمه الله» له هدايت سره سم قومنده کوي،داسلامي امارت دمرگ لېزرې فرشتې دمزدورانوپه «قرارگاه» ورنازليږې او دسترگوپه رف کې يې له خاوروسره خاورې کوي، گړۍ وروسته يوځل بيا د وخت خالد «ادريس» شريف ته هدايت کوي:چې مجاهدينو ته د بيرته ستنيدو أمر وکړه؛هسې نه د دښمن طيارې راسي!شريف ملگروته دواپسې امرکوي. پدې وخت دوحشي- غليم الوتکې رارسيږې او دخپل عادت لمخې چې تل يې په مخامخ جگړه کې منډه خپلوله

په بمبارپیل کوې او په ډیره بي دردې او وحشـــت سره دوخت سپه سالارسرشاره مجاهـد مولـوي صـاحب شریف او یوشمیرملګري په شـهادت رسـوي؛چې د دې مظلومو شهیدانوپه قطارکې دخپلـې مـورکی د زړه ټوټـه ملاعتیق الله «ابودجانه جان» هم له خپـل امیـراو ارمـان سره وفـاوکړه او د تکبیرپـه ملکوتې چیغه د «۲۴»کالوپه عمـر د شـهادت دنـګ منارته وخوت .نحسبهم کذالک والله حسیبهم.

«کرامت یې»: مشره خورمې له نن څخه یوه ورځ وړاندې د عتیق الله جان په باب راوغږه وله؛ نـو لومړی یې د ده «رحمـه الله» کرامـت راتـه بیـان کـړ پداسـې حـال کـې چـې لـه سـترګویې ترمـې ترمـې اوښکې توپې دلې.په پای کې یې راتـه وویـل: وروره د عتیق الله جان غم د زغملو نده ډیر راباندې بوج ده چې کله تنهاسم نو سترګوته مې ودریږي او ډیـره بي تابـه سـم. خپـل زوی شـهیدملا نـذیر احمـدجان «خنجري» مـي بلکـل ور پـورې هیـرده.بس مـاهم د اوښکوپه بدرګه څو د تسلیت کلمات ورتـه وړانـدې کړل نور ....

د کرامت کیسه یې داسې راته وکـړه: کلـه چـې خبره سوم چې ابودجانـه جـان شهیدسـوی ډیـره ودر دېدلم خو لا هم ښه وم بیواکه سوې نه یم، لـه خپلـه زویـه عثمانـه مـې پوښـتنه وکـړه: زویـه نـور څـوک شـهیدان سـوې؟ شریـف مولـوي صـاحب ژونـدی ده؟،عثمان سم حال نه راته ویل بس د تسـلې خـبرې راته کولې وروسته مـې ډیـر پـه عـذاب کړ.راتـه وې ویل: هو شریف مولوي صاحب او څه ملګـري هـم شـهیدان سـوې. بـس لـه دې سره پـه ځـان نـه یـم پوهیدلې، دوی موټر ته پورته کـړې وم، شـیرته یـې د ورونو کورته بیولم، په لاره کې مي موټر ته پـام سـو. د ابودجانه جان جسدمبارک په بل مـوټرکې اینبـی ؤ، ما نارې کړې: ماورښکته کړئ! دا شهید که هرڅوک وي زه یې گـورم! شـهیدان ټـول زمـا ورونـه دي، کـه شریف مولویصاحب،یا بـل طالـب وي او کـه عتیـق الله جان وي زه ورځم. طالبانو نارې راته وهلـې ښـه ده موږې لیږ صبر وکړه ورښکته کوودې!

لنډه داچې ورښکته يې کړم هغه موټرته يې ور و خيزولم چې ابودجانه جان پکې اينبی ؤ، د ابودجانه جان چپ بغل«ځنګ» ته کينستم. پر ټټر مې لاس ورتيرول کتل مي چې په کوم ځاي لګيدلی ده.د ابودجانه جان مخ د جنوب لورته ؤ، ښی ستړګه يې رڼه «خلاصه» او چپه ستړګه يې پټه وه. ښی لاس يې راپورته کړ زماپه لاس کې يې کينښودل، ماورته وويل ترلاس دې قربان سم که زه داسې خبره واي: چې ته لاس راکوي بياخودې ښې بغل ته کښينستم. تردېره ځايه يې لاس زما په لاس کې اينبی ؤ.وروسته يې لاس ښکته او ښی ستړګه يې هم پټه کړه«تقبله الله تعالی بقبول حسن»

«مدني حالت» ابودجانه جان کوزده کړې وه خو واده مو لا نه و ورته کړی.مخکې مي وويل چې ابودجانه جان په ټولوکورونو ډير ګران ؤ؛ځکه مو نو کوزده هم په هغه ځای کې ورته وکړه چې ده «تقبله الله» په خپله انتخاب کړی ؤ. خوسره له انتخابه تر ميرمن او ټولو قريبانو د خدای ـ جل جلاله ـ دين ډير ورته ګران ؤ ځکه يې ځان ترځارکړ.

«بې ضميره سيکولرانوته پيغام»زه هغو بې ضميرو بې وجدانوته وايم چې په مجاهدينو پسې خبرې کوي چې دوی پيسې، وسلې او نورجنګي اساب له کومه کوي، او يا داچې د کوم هيواد يا شخص د په لمسون د هغوی د ګټو لپاره جنګيږي. :«چې: «قياس کن زبوستان من بهارمرا» په الله قسم د ابودجانه جان ناوکی د ولور له نيستې او نه پيسو د پلار په کور کونډه سوه، تر واده يې دجهاد اسباب ورته ډير أهم او ضرورې ښکاره کيدل. او دا تنها ابودجانه نده په الله قسم موږ تردې هم زيات مخلص مشران او مجاهدين په اسلامي امارت کې لرو چې الله ـ جل جلا له ـ د دوی د اخلاص په وجه د فتنو په دومره سخته زمانه کې د اسلامي امارت په نوم دغه بيړی سالمه دا ده د نجات او کاميابی تر درشله را ورسوله.

زه داسې ډيرمجاهدين ملګري پيژنم چې زمی«ژمی» په ګاونډيو هيوادونوکې مزدورې کوي،چای خرڅوي، ريړی «کراچی» ګرزوې يا روزانه کوي پسرلی «ووړی» بيا په هغو پيسو ځان ته موټرسايکل او نور جنګې اسباب اخلي جهاد په کوي، په همدغه اخلاص او رښتنولې کې يې د بريا او کاميابې راز نغښتی ده.

داسې کم عقل او ناپوه به څوک وي چې پدغسې غربت او سختو حالا توکې ځان،مال، او هرڅه بيله کومې دنيوې ګټې د يو هيواد يا شخص لپاره قربان کړې،خو دوی بې دينان ځکه ندې ملامت چې له دينه بيګانه او ناخبره دي او آخرت ته عقيده نلرې.پای

د فقهي مجالسو کتې او اهداف!!

ليکنه: ابن الشهيد "بدري"

يو له هغو ځانګړتياو چې اسلام د نورو اديانو تر منځ جامع او مکمل معرفي کوي، او هم يې د جامعيت او تکميل له اسبابو څخه شمېرل کيږي، مشوره کول دي.

د ژوند په اهمو کارونوکې مشوره او له يو بل نه د نظر او رايې اخستلو په پار غونډې او مجالس جوړول په اسلام کې ځانګړی باب او مقام لري، اسلام هيڅکله چاته د انفرادي فيصلې او نظر وړاندې کولو اجازه نه ورکوي، تر څو ټولنه له شخصيت پرستۍ، فکري او نظري اختلاف څخه سالمه پاتې شي، اسلامي ټولنې هغه مهال خپل پرمختګ او ارزښتونه له لاسه ورکړل، کله يې چې خپل منځي مشوره او هماهنګي له پامه وغورځوله .

الله جل جلاله په قرآن کې د صحابه کرامو له کړو وړو څخه د مشورې ستاينه کوي

فرمايي: (وَأَمْرُهُمْ شُورَىٰ بَيْنَهُمْ) ژباړه: دوی خپلمنځي چارې په مشوري سره طی کوي.

په نبوي احاديثو کې سلګونه داسې روايات شتون لري چې نبي عليه الصلوة والسلام به له صحابه کرامو سره په کارونو کې مشورې کولې، حالانکې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته د الله جل جلاله له لوري وخت په وخت وحي هم کېدله .

دغسې به لومړی خليفه (ابوبکر صديق) رضي الله عنه ته چې کومه مسئله پېښه شوه د هغې د حل لپاره به يې د شورا مجلس منعقد کړ، امام بيهقي په "السنن الکبری: ۱۱۴،۱۱۵/۱ " کې له ميمون بن مهران رضی الله عنه څخه روايت کوي چې ابوبکر صديق رضي الله عنه ته به چې کله داسې مسئله پېښه شوه چې صراحتاً به يې په قران او حديث کې حل نه ښکارېده نو له صحابه کرامو سره به يې پرې مشوره کوله له هغې وروسته به يې عملي ګامونه اخستل .

علامه ابن القيم الجوزي رحمه الله په خپل کتاب "اعلام الموقعين: ٦٥/١ " کې د عمر فاروق

رضي الله عنه د فقهي شوری منهج او تګلاره ښه تفصیلی بیان کړې ده .

فقهي شورا د یو څو صحابه کرامو نظر او تګلاره نه وه بلکې اکثرو صحابه کرامو دغه لار تعقیب کړې وه، په ځانګړي ډول زید بن ثابت، عبد الله بن عباس او عبد الله بن مسعود رضی الله عنهم ښه قوي شورایي نظام او فقهي مجالس درلودل، دغه لړۍ د مدینې منورې تر فقهاء سبعه و بیا تر مروان بن حکم او عمر بن عبدالعزیز رحمهم الله را وغځېده.

کله چې د کوفې نومیالی فقیه او محدث حماد بن ابي سلیمان رحمه الله وفات شو، د زرګونو علماو تر منځ دغه مسند او مقام ته د امام ابوحنیفه رحمه الله انتخاب وشو .

کوفه د نورو ښارونو په څېر یو عادي ښار نه و، بلکې کوفه دغه مهال هغه اسلامی ښار و چې په سینه یې زرګونو فقهاو او محدثینو له اوږدې مودې یو لوی غورځنګ درلود .

امام ابوحنیفه رحمه الله دغه مسند ته له رسېدو سره په لومړي قدم کې د فقهي مجلس په انعقاد سره د عبد الله بن مسعود رضی الله عنه سنت را ژوندی کړ، امام صیب د خپلې ځیرکتیا او استعداد له مخې د ټولنې موجوده او راتلونکې ستونزو او مشکلاتو دسنجولو په اساس د بېشمېره فقهاء او محدثینو ترمنځ څلویښت داسې فقهاء او محدثین خپل مجلس او شورا ته منتخب کړل چې خورا ډېر باریک بین او له لوړ استعداد څخه برخمن و چې نومونه یې په دې ډول دي:

١ - امام زفر رحمه الله چې په ١٥٨هـ کې وفات سوی دی.

٢ - امام داؤد طایي رحمه الله چې په ١٦٠ هـ کې وفات سوی دی.

٣ - امام حبان بن علي رحمه الله چې په ١٧٣ هـ کې وفات سوی دی.

٤ - امام زهیر بن معاویه رحمه الله چې په ١٧٣ هـ کې وفات سوی دی.

٥ - امام حماد بن امام اعظم رحمه الله چې په ١٧٦ هـ کې وفات سوی دی.

٦ - امام شریک بن عبدالله رحمه الله چې په ١٧٨ هـ کې وفات سوی دی.

٧ - امام عبدالله بن مبارک رحمه الله چې په ١٨١ هـ کې وفات سوی دی.

٨ - امام محمد بن نوح رحمه الله چې په ١٨٢ هـ کې وفات سوی دی.

٩ - امام ابوسعید یحیی بن ذکریا رحمه الله چې په ١٨٤ هـ کې وفات سوی دی.

١٠ - امام اسد بن عمرو رحمه الله چې په ١٨٨ هـ کې وفات سوی دی.

١١ امام علي بن مسهر رحمه الله چې په ١٨٩ هـ کې وفات سوی دی.

١٢ امام عبدالله بن ادریس رحمه الله چې په ١٩٢ هـ کې وفات سوی دی.

١٣ امام علي بن طیان رحمه الله چې په ١٩٢ هـ کې وفات سوی دی.

١٤ امام وکیع بن جراح رحمه الله چې په ١٩٧ هـ کې وفات سوی دی.

١٥ امام يحيى بن سعيد القطان رحمه الله چې په ١٩٨ هـ کې وفات سوی دی.

١٦ امام ابو حفص بن عبدالرحمن رحمه الله چې په ١٩٩ هـ کې وفات سوی دی.

١٧ امام خالد بن سليمان رحمه الله چې په ١٩٩ هـ کې وفات سوی دی.

١٨ امام حسن بن زياد رحمه الله چې په ٢٤٠هـ کې وفات سوی دی.

١٩ امام مکي بن ابراهيم رحمه الله چې په ٢١٥ هـ کې وفات سوی دی.

٢٠ - امام مالک بن مغول رحمه الله چې په ١٥٩ هـ کې وفات سوی دی.

٢١ امام مندل بن علي رحمه الله چې په ١٦٨ هـ کې وفات سوی دی.

٢٢ امام عمرو بن ممون رحمه الله چې په ١٧١ هـ کې وفات سوی دی.

٢٣ امام ابو عصمه رحمه الله چې په ١٧٣ هـ کې وفات سوی دی.

٢٤ امام قاسم بن معين رحمه الله چې په ١٧٥ هـ کې وفات سوی دی.

٢٥ امام هياج بن بسطام رحمه الله چې په ١٧٧ هـ کې وفات سوی دی.

٢٦ امام ابو يوسف رحمه الله چې په ١٨٢ هـ کې وفات سوی دی.

٢٧ امام هشيم بن بشير السلمي رحمه الله چې په ١٨٣ هـ کې وفات سوی دی.

٢٨ امام فضيل بن عياض رحمه الله چې په ١٨٧ هـ کې وفات سوی دی.

٢٩ امام محمد بن الحسن رحمه الله چې په ١٨٩ هـ کې وفات سوی دی.

٣٠ امام يوسف بن خالد رحمه الله چې په ١٨٩ هـ کې وفات سوی دی.

٣١ امام فضل بن موسى رحمه الله چې په ١٩٢ هـ کې وفات سوی دی.

٣٢ امام حفص بن غياث رحمه الله چې په ١٩٤ هـ کې وفات سوی دی.

٣٣ امام هشام بن يوسف رحمه الله چې په ١٩٧ هـ کې وفات سوی دی.

٣٤ امام شعيب بن اسحاق رحمه الله چې په ١٩٨ هـ کې وفات سوی دی.

٣٥ امام ابو مطيع بلخي رحمه الله چې په ١٩٩ هـ کې وفات سوی دی.

٣٦ امام عبدالحميد رحمه الله

٣٧ امام ابو عاصم النبيل رحمه الله چې په ٢١٢ هـ کې وفات سوی دی.

٣٨ امام حماد بن دليل رحمه الله چې په ٢١٥ هـ کې وفات سوی دی.

٣٩ امام نضر بن عبدالکريم رحمه الله چې په ١٦٩ هـ کې وفات سوی دی.

٤٠ امام عافيه بن زيد رحمه الله

دغه علماء کرام د خپل وخت مجتهدين او د وخت وتلې څېړې وې .

د دې څلويښتو علماء کرامو له جملې څخه لس يا دوولس (١٢) يې داسې عالمان وو چې تر خپل منځ يې ځانګړې ناستې يا مجلسونه درلودل. دغو علماء کرامو د خپلې ښې وړتيا له مخې د پورته يادو څلويښتو علماء کرامو پر مجالسو ځانګړی نظارت درلود.

د دغه مخصوص مجلس غړي، امام ابو يوسف رحمه الله، امام زفر رحمه الله ، امام داؤد طائي رحمه الله، امام يوسف بن خالد رحمه الله، يحيى بن

ذکریا رحمه الله، امام محمد رحمه الله، عبدالله بن مبارک رحمه الله وو.

همدا ډول په دغه مجلس کې امام ابو حنیفه رحمه الله خپله هم ګډون درلود.

همدغه مجلس چې کوم مسایل له قران او نبوي احادیثو څخه را وویستل له هغې څخه د فقه حنفي په نوم یو داسې ژوندی اسلامي قانون جوړ او تدوین شو چې په خپل جامعیت په خپله شاهدي ورکوي.

امام وکیع بن جراح او امام شافعي رحمهما الله د همدغه فقهي مجلس په اړه وایي:

(د امام ابو حنیفه رحمه الله په کار کې به څنګه غلطیانې پیدا شي) له امام صاحب سره په کارونو کې ابو یوسف رحمه الله، حفص بن غیاث رحمه الله او د حبان رحمه الله په څېر د حدیثو پوهان موجود دي. د عربي لغاتو استاد او ماهر قاسم بن معین رحمه الله ور سره ملګری و. همدا ډول د نفیر طایي رحمه الله، فضیل بن عیاض رحمه الله په څېر د تقوی او پرهېزګاری څراغان ورسره ملګري وو.

د دغې شورا یوه لویه ګټه دا وه چې امت ته یې نړۍ دولس لکه اویازره مسایل په میراث کې پرېښودل.

د حنفي فقهې تر ټولو لوی امتیاز او خصوصیت دا دی چې دا یوه شورایي فقه ده، یوازې د امام صیب د شخصي رایي او نظر په اساس یې بنیاد نه دی ایښودل شو؛ بلکې په یاد مجلس کې به مسئله وړاندې کیدله په هغې به څو څو وخې ژور ژور بحثونه کېدل تر څو اتفاقي بڼه خپله کړي، بیا دغه مسئله لیکل کېدله او که بحث به د اتفاق نتیجه ورنکړه بیا به له دې مسئلې سره د هر فقیه رایه او قول لیکل کیده .

همدا لامل دی چې حنفي فقه تر نورو په نړۍ کې د یو سالم قانون په حیث نافذه ده او نړۍ پنځه اویا (۷۵) فیصده مسلمانان یې پیروان دي .

لله الحمد دغه د فقهي مجالسو لړۍ ترننه په تواتر سره راروانه ده، د نړۍ په مختلفو هیوادونو کې ډېرې داسې مجالس شتون لري چې نور مذاهب بیا له داسې مجالسو عاجز دي.

د کومو هیوادونه علمي سطحه چې څومره لوړه وي هغوی هم دومره قوي علمي مجالس او د علماو ترمنځ شورايي نظام لري؛ متأسفانه چې زمونږ افغانی ټولنه دا څو لسیزې له داسې بوګنونکو حالاتو څخه تېریږي چې علماء یې د زلمیو په جنازو او دفن کولو ستومانه شول، استعدادونه، وړتیاوې او ارزښتونه د انقلاب په طوفاني سیلیو کې لولپه شول؛ خو د دې تمامو ناخوالیو برسېره د نړۍ له علماو سره د سیالۍ په میدان کې اوږه په اوږه ولاړ دي، لله الحمد نن د هیواد د هر ولایت د هرې ولسوالۍ هر کلی یو منظم فقهي مجلس لري چې له املې یې ټولنه د یوه نوي پرمختګ او ارتقا په لور روانه ده، لیرې نه ده چې ټولنه مو یو ځل بیا یو بل قتیبة بن سعید البغلاني، مطیع بلخي او فخرالدین رازي دنیا ته وړاندې کړي او هیواد مو یو وار بیا داسې علمي ټاټوبی وګرځي چې د نړۍ علمي تنده به ورماته کړي .

خو دا چې د لیکنې حوصله تنګه ده خپل مطلب په څو ټکو کې رانغاړم، په نن عصر کې چې د فقهي مجالسو کوم اهداف او ګټې دي ستاسو مخې ته یې وړدم:

(دفقهي مجالسو اهداف)

• د نن عصر د نویو تغیراتو او تحولاتو منځ ته راتلو سره د حنفي فقهې په رڼا کې د کتاب الله او سنت رسول د لارښوونو سره سم مسائل حل کول.

• په اجتماعي ډول د فقهې د اصولو په رڼا کې په عصري مسائلو باندې تحقیق کول.

• د معاصرو محققینو علماو او فقهي مجمعو نویو مسائلو او تحقیقاتو ته لاس رسی کول او په ولس کې د هغو خپرول.

• د هېواد په دننه او بهر کې له دار الافتاو او فقهي مجمعو سره روابط ساتل او د علمي مقالاتو په اړه له هغوی سره معلومات تبادله کول او د موثقو او معتمدو علماو رایه معلومول او د ګټې په خاطر یې له ولس سره شریکول.

• د اسلامي فقهې په چوکاټ کې پر هغو اشکالاتو نقد او برسري کول چې د مستشرقینو او نورو باطلو فرقو له خوا را پورته شوي دي او د دې لپاره مدلل او معقول ځوابونه لټول.

• د مختلفو موضوعاتو او کتابونو فهرست جوړول.

• په علمي ډګر کې نوی ځوان نسل تشویقول او هڅول ترڅو محققین او باحثین ورڅخه جوړ شي.

• پورتني اهدافو ته د رسېدلو لپاره د فقهي مجلس له خوا وخت نا وخت مذاکرې او مجلسونه جوړول او د دې لپاره تحقیقي او مطالعاتي هیئتونه هم ټاکل .

• د علماوو ترمنځ په هماهنګي او مشترکه ډول د ټولنې د مسائلو د حل لپاره کار کول.

په همدې هیله.

د اسلامي دعوت اخلاقي بنسټونه

خلکو ته بشارت او زیری ورکول

ژ: احمدحمزه

یو چا ته بشارت یا زیری ورکول یو داسې شعار دی او غږ دی چې نصرانیانو او عیسویانو به ویلو او خلک به یې ورته بلل، (هغوی به ورته تبشیر ویلو) دا یې یو مذهب او مسلک ګرځولی و. اکثر چې موږ وینو د دوی دغه ډول طریقه چې زیری ورکول یا (تبشیر) ورته وایي؛ ډېر خلک خوښه کړه، پداسې حال کې چې ډیری مسلمان داعیان د بلنې په وخت ددې برعکس داسې یوه طریقه کاروي چې څوک اسلام ته رابولي، هغه ورځخه نفرت کوي، آیا مسلمان داعي او بلونکی ډېر حقداره نه دی چې هغه د دغسې تبشیر یعنې زیري ورکولو اخلاق ، وسیله او غایه وګرځوي، چې خپل پیغمبر یې هم ورته دهمدغو ښوونه کوي.

له تبشیر څخه اصل مقصد دلته هغه ځانګړنې او صفات په ځان کې راوستل دي چې مینه، آرامي او سوکالي خپروي، خلکو ته پکې امید پروت وي، د نفرت اچونې له طریقو پکې ځان ساتل شوی وي، حتی که د الله تعالی څخه او د جهنم له اوره هم څوک وېرول کیږي باید د تبشیر اسلوب په کې وکارول شي.

پیغمبر صلی الله علیه وسلم خپلو پیروانو ته بشیر (زیری ورکوونکی) او دښمنانو ته نذیر (وېروونکی) لیږل شوی، بلکې د ټولو پیغمبرانو ځانګړنې له همدغو دوو خبرو څخه زیاتې نه دي. الله تعالی فرمایي: {وَمَا نُرْسِلُ الْمُرْسَلِينَ إِلاَّ مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ ...} [الأنعام: ٤٨]، [الكهف: ٥٦] موږ چې کوم پیغمبران لیږو ، یواځې ددې لپاره چې نیکانو ته زیری ورکوونکي او بدعمله خلکو ویروونکي وي.

الله تعالی په ګنو آیتونو کې مؤمنانو، صبرکوونکو، نیکي کوونکو او تواضع لرونکو ته دتبشیر یعنې زیري ورکولو امر کړی.

د پیغمبر صلی الله علیه وسلم لخوا په زیري ورکولو کې طریقه دا وه چې مناسب وخت به یې کوت او په مناسبه اندازه به یې وعظ او علم رساوه، ترڅو په بار بار وعظ کولو سره صحابه ورڅخه په

نفرت واقع نـه شي، پـه دې اړه پېغمـبر ﷺ فرمـايي: «يَسِّروا ولا تُعسِّروا وبَشِّـروا ولا تُنفِّـروا» (صـحيح البخاري - كتاب العلم/ الحديث ٦٩). اساني وكړئ او سختي مه كوئ ، خلكو ته زيرى وركړئ او خلك په نفرت كې مه اچوئ!

ابن حجر رحمه الله پدې حديث باندې داسې تبصره ليكي: چا چې لنډ وخـت كيـږي چـې ايـمان راوړى وي، هغوى تـه مينـه وركـول، پـه شروع كـې وربانديې سختي نه كول ، دا راز له گناهونو څخه يې منع كول هم بايـد پـه ډېـرې مهربـانۍ وشي، ترڅـو خبره ومني. همدا راز يو چاته د علم ښوونه هم بايـد په تدريج سره وي ځكه چې كله د يو شي پيل اسـانه وي، بيا به يې كوونكي سړى خوښوي، په ډېر وريـن تندي به يې مني او په پايله كې به هغه لازياتوالي تـه شوقمن وي.

د پېغمـبر ﷺ يـو حكمـت دا و چـې هغـه د همتونـو پـه وېښـولو او د طاعـت او نيكـۍ لپـاره د ځوانـانو بيـدارولو لپـاره د تبشـير (زيـري وركولـو) طريقې استعمالولې ، له همدې وجې فرمايي: «**بشِّـر المشائين في الظُّلَـم إلى المسـاجد بـالنور التـامِّ يـوم القيامة**» (صحيح سنن ابن ماجه /حـديث ٦٣٣) پـه تورو تيارو كې جومـاتونو تـه تلونكـو تـه پـه بشـپړه رڼايـۍ سره زيرى وركـړه. يـوه ورځ يـې دماخوسـتن لمونځ خپلو ملگرو تـه وركـړ، مخكـې لـه دې چـې صحابه كورو ته وگرځي، ورتـه وې ويـل: لـږ صـبر وكړئ! زيرى دركوم، دالله تعالى لـه نعمتونـو څخـه په تاسې داسې يو نعمت دى چې پدغه سـاعت كـې له تاسې پرته هيڅ لمونځ كوونكى نشته. ابو موسـى اشعري ﷺ وايي: چې موږ كورو ته گرځيدلو، دنبي عليه السلام پدې خبره بې حده خوشاله و.

هر انسان په ډېر سخت د مايوسۍ او گـډوډۍ حالت كې دغسې تبشير تـه ضرورت لـري، ترڅـو د هغه څخه د مايوسۍ او اضـطراب دغـه تـاثير خـتم كاندي، د همدې لپاره كله چې پېغمبر ﷺ په ړومبـي ځـل د وحـې نازليـدو سره خپـل حالـت او جريـان خديجې رضي الله عنها ته بيان كړ او هغـه ﷺ ورتـه ددغه نوي حقيقت راښكاره كېدلو له وجـې د خپلـې وېرې اظهار وكړ، نو هغې ورته د ښه وخـت تېرولـو او ښې سابقې سره زيرى وركړ، دا يې ورته څرگنـده كړه چې د الله تعالى لخوا دغسې تكليف ډېـره لـرې خبره ده چې په تا دې راشي، هغې ورته زيرى وركړ، وې وويل: (**كلا، أبشر، فوالله لا يخزيك الله أبـدًا، فوالله إنك لتَصِل الرحم، وتصدق الحديث، وتحمـل الكـلَّ، وتكسِـب المعـدوم، وتعـين عـلى نوائـب الحق..**) هيڅكلـه داسـې نـه ده ! زه زيـرى دې وي دربانديې، قسم په الله چې ستا به هيڅكله سپكه ونـه كړي، په الله تعالى قسـم چـې تـه خپلـوي پـالې او خبرې رښتينې كوې، له كمزورو د اوږو پېتـى وړې، نيستمن ته لاس وركـوې او دحـق پـه كـارو كـې لـه خلكو سره مرسته كوې).

همدغه ډول به پېغمبر ﷺ له خپل امت څخه د اسلام د مبارک دین د راتلونکي او د اسبابو په اړه ژور خفګانونه او لاملونه له منځه وړل، هغه ﷺ فرمايي: «**بشر هذه الأمة بالسناء والرفعة والدين والنصر والتمكين في الأرض ..**» (مسند أحمد ٥/ ١٣٤). دې امت ته په ځمکه کې دپرمختګ، د لوړوالي ، کامیابۍ او برلاسۍ زیری ورکړه.

د انسان له ټولو کمزوریو سره سره پېغمبر ﷺ به له خپلو ملګرو سره سخت تعامل نه درلود او نه يې ناوړه الفاظ او زشته لهجه ورته کاروله. یو وخت صحابه رضي الله عنهم خبر شول چې ابوعبیده له بحرین څخه جزیه راوړې ، نو دوی د سهار له جمعې وروسته پېغمبر ﷺ ته راټول شول ، نو هغه سمدستي پوه شو چې دوی څه غواړي؟ بیا يې وفرمایل: «**فأبشروا وأملوا ما يسركم، فواللّه لا الفقر أخشى عليكم، ولكن أخشى أن تبسط عليكم الدنيا ..**» (صحيح البخاري/ كتاب الجزية /حديث ٣١٥٨).

نو زیری درباندې نو د هغه څه امید وکړئ چې تاسې خوشاله کوي، قسم په الله زه په تاسې باندې له فقر څخه نه وېرېږم، بلکې زه وېرېږم چې هسې نه دنیا پر تاسې دنیا غالبه شي.

مؤمن په هرحال کې ارتیا لري چې له هغه څخه دې څوک غم کم کړي او د خوشالۍ خبره او زیری دې ورکړي یا يې په ببړني پراخۍ او کامیابي او یا ورته د راتلونکي اجرونه روښانه کړي څنګه چې پېغمبر ﷺ یوه ورځ د علاء مور ناروغه ولیده ، نو هغې ته يې وویل: اې د علاء مورې زیری دې وي درته، چې د مسلمان مریضي د هغه بدۍ له منځه وړي، څنګه چې اور د اوسپنې زنګ وړي. «**أبشري يا أم العلاء، فإن مرض المسلم يُذهب خطاياه، كما تُذهب النار خبث الحديد**» (صحيح الجامع برقم ٣٧).

مؤمن باید خلکو ته په غم او سخته کې د دادګیرنې سره خوښي ورکړي، له هغوی سره د زړه خواله وکړي، دهغوی زړونه له غمه سپک کړي او خوشاله يې کړي ، یو وخت د انس بن مالک ﷺ د کورنۍ څخه او د هغه د قام څخه څوک وژل شوي و، په اړه يې زید بن ارقم ورته ولیکل : زه تاته د الله تعالی لخوا زیری درکوم، ما له پېغمبر ﷺ څخه اوریدلي و، هغه به فرمایل: «اللهم اغفر للأنصار، ولأبناء الأنصار، ولأبناء أبناء الأنصار ...» (مسند أحمد ٤/ ٣٧٠). اې ربه انصارو ته مغفرت وکړې، ځامنو ته يې وکړې او د ځامنو ځامنو ته يې وکړې.

الله تعالی هغو مجاهدینو ته چې دوی په جهاد سره بیعت کړی او بیا ورته ژمن پاتې شوي، هغوی ته د داسې شیانو زیری ورکوي چې ورته ساتلې يې دي: فرمايي: {... فَاسْتَبْشِرُوا بِبَيْعِكُمُ الَّذِي بَايَعْتُم بِهِ ....} [التوبة: ١١١] نو خوښ اوسئ په خپلې دغې سودا سره چې تاسې له الله تعالی

سره کړي). او پېغمبر ﷺ بيا د توحيد عملبردارانو ته چې تل يې توحيد کلمې په خبرو او عمل کې يې اعتقاد ښودلی او پاللې يې ده، د جنت زيری ورکوي ، فرمايي: «**أبشروا. وبشروا من وراءكم؛ أنه من شهد أن لا إله إلا الله صادقًا من قلبه، دخل الجنة**» زيری واخلئ، له تاسې چې وروسته دي هغوی ته هم زيری ورکړئ چې پدې کې هيڅ شک نشته، هر هغه چا چې گواهي ورکړه چې د الله تعالی نه ماسيوا بل معبود نشته ، په زړه کې ږښتينی و، جنت ته داخل شو. (صحيح الجامع برقم ٣٥)

او جبرائيل عليه السلام پېغمبر ﷺ ته د هغو مؤمنانو په اړه چې الله تعالی څخه ويريدونکي وي او له هرقسم شرک کولو يې ځان ساتلی وي داسې زيری ورکوي: «بشر أمتك أنه من مات لا يشرك بالله شيئًا، دخل الجنة ..» (صحيح البخاري/حديث ٦٤٤٣). خپل امت ته زيری ورکړه بې شکه هر هغه څوک چې مړ شي او د الله تعالی يې هيڅ ډول شرک نه وي کړی ، جنت ته داخل شو.

او د کعب بن مالک د توبې په کيسه کې چې دوی له غزا پاتې شوي و، په انځور کې يې د صحابه و رضي الله عنهم د محيط او چاپيريال يو ډول اجتماعي مينه او اخوت څرگندېږي ، کله چې دوی کعب بن مالک ته د توبې قبليدو مبارکيانې ورکوي، څو کسه زيري کوونکي هغه ته په منډه ورځي، مخکې له دې چې ورسيږي ، هغه ته پر لاره اوازونه کوي: (**اې د مالک ځوی کعبه! زيری واخله ! کعب وايي: چې زه په سجده پرېوتم ، زه پوی شوم چې خامخا څه خلاصون راغی**) بيا له هغه سره ډلې ډلې خلک يوځای کېدل هغه ته يې د توبې مبارکيانې ورکولې او ورته ويلې يې : د الله تعالی لخوا دې تاته د توبې مبارکي وي

هغه چې کله په رسول الله ﷺ سلام واچوه، نو هغه ﷺ ورته پداسې حال کې چې مخ يې له خوشالۍ پرکيده وويل: «أبشر بخير يوم مر عليك منذ ولدتك أمك ..» د داسې بهترينې ورځې زيری درکوم چې تا باندې د خپلې مور له زيږولو وروسته راغلې.

ترټولو نا اشنا داده ، پدې کيسه کې چې روايت يې ابن حجر رحمه الله راوړي، په اسلامي محيط کې د زيري تبادله کولو حرص څرگندوي کعب ﷺ وايي: الله تعالی د شپې دريمه برخه کې پېغمبر ﷺ ته زمور توبه نازله کړه او پېغمبر ﷺ له ام سلمة رضي الله عنها سره حضور درلود، هغه زما په اړه ډېره خيرخواه او دې حالت ته ډېره متوجه وه، نو هغه ﷺ ورته وفرمايل: اې ام سلمې ، کعب ته ښښنه وشوه، هغې ورته کړه چې : آيا زه هغه ته څوک نه ليږم چې زيری ورکړم؟ هغه ﷺ وويل : نو بيا به د خلکو رش جور شي ، تاسې به ټوله شپه خوب ونه کړئ) مطلب دا چې ام سلمة رضي الله عنها دې ته په تلوسه کې وه چې سهار ته انتظار ونه باسي او

هسې نه چې د يو مسلمان ته په زيـري ورکولـو کـې ځنډ راشي.

الله تعالى له خپلو مؤمنـو او متقيـانو بنـدګانو سره وعده کړې چې: {لَهُمُ الْبُشْرَى فِي الْحَيَاةِ الـدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ ...} [يونس: ٦٤] هغـوى لـره د دنيـا پـه ژوند او آخرت کې زيرى دى.

پـه دنيـا کـې ورتـه ښېرنـى زيـرى دادى چـې: مسلمان تـه د نـورو خلکـو پـه زړونـو کـې مينـه او مقبوليت ورکړي او هم يـې پـه نيکـۍ کـې لـه هغـه څخه منندوى وي نو همدا د زيري ورکولـو پـه معنـا ده، امام مسلم رحمه الله په خپل کتاب کې يـو بـاب راوړى چې (که د نيک سړي د کار ستاينه وشي نو دا د هغه لپاره زيرى دى) پدې باب کې حديث راوړي، پيغمبر ﷺ ته چا وويل : مورِ ته خـبر راکـړه کـه يـو سړي نيک کار وکړي او خلک د هغه ستاينه وکړي ؟ هغه ورته وفرمايل: «تلك عاجل بُشرى المؤمن» دا د مـؤمن لپـاره عاجـل او ښرنـى زيـرى دى. (صـحيح مسلم/ كتاب البر/حـديث ٢٦٤٢). پيغمـبر ﷺ لـه خپلو ملګرو او صحابه و سره په زيري ورکولـو کـې داسې و لکه هغـه چـې پخپلـه فرمـايي: «إن الـدين يسر، ولن يشادَّ الدين أحد إلا غلبه، فسددوا وقـاربوا وأبشروا.» يقينا دين اسانه دى او هـر هغـه چـا چـې دغه دين (لـه خپـل طاقتـه پورتـه) پـه ځـان مکلـف ګرځولى هغه هيڅکله برداشت کـړى نـه دى، مګـر هغه يې ارِ شوى چـې اعتـدال او اسـانۍ طـرف تـه وګرځي، نو په اعمالو کې سداد يعنې منځلاريتـوب او اعتدال غوره کړئ، او په اعمالو کې د هغـه عمـل نژدې والى راولئ چې هغه اسـانه وي، او زيـرى دې وي درتـه. (صـحيح البخـاري - كتـاب الإيمـان - حديث ٣٩).

فتح الباري ليکي : (زيـرى دې وي درتـه) ، دا مطلب چې په دائم عمل سره د ثوابونو زيرى درکوم، اګر که کم وي، مـراد پـدې سره هغـه چاتـه بشـارت ورکول دي چې له عمل څخه که بشپړ بې وسـه هـم وي؛ که چېرته بې وسي دده له خپله ځانه نـه وي نـو دده اجرونو کې کمى نه راولي، او په کـوم څـه چـې زيرى ورکړل شوى، دده عظمت او دده قـدردانۍ لـه وجې هغه ناڅرګند دى.

د همـدې اخلاقـو مبنـا او اسـاس دادى چـې مسلمان بايد هر وخت لپاره ښه پال نيوونکى وي او ښې هيلې او اميدونه ، غوره پاى او عاقبت په سـوچ کې لري او بل مسلمان ورور ورڅخه داسې څه وانه وري چې په هغه بد لګيږي او ناهيلي کوي

آيا لدې ټولو خبرو او اشارو وروسـته بيـا هـم مؤمن د ځان په اړه بد پال نيـسي او بدشـګونه وي، د شرمندګۍ ، ناکامۍ او نفرت اچونې احساس لري او د خپلې ورټيا وژنه غواړي؟ او يا مـورِ خلکـو تـه زيرى ورکړو او ښه پال ونيسـو، د خلکـو ولـولې او احساسات ژوندي کړو، نيکيو تـه يـې وهڅـوو، پـه نيک کار کې ورسره مرسته وکـړو، همتونـه او لـوړې ارادې پکې راپورته کړو، ترڅو چې هر يـو لـه مـورِه خپلو نورو ورونو ته زيرى ورکړو چې د هغوى هيلې او اميد ورسره ژوندى او لا ښه عمل ته هڅاند وي.

دمورچل دارالافتاء

په موروث مال کې دزیات عمل په وجه څوک د زیات وراثت مستحق ګرځېدای شي ؟

پوښتنه:

په تورخم کې زموږ دکبارِ کاروبار دی؛ پلار به مو د جاپان نه د موټرو د استعمال شویو پرزو کانټینر راوړلو او موږ دریِ واړو ورونو به په خپل دوکان کې خرڅولې؛ پلار مو وفات شو اوس زموږ منځنی ورور جاپان ته ځي؛ بچي مو چې له درسونو فارغ شي هغوئ هم راسره له ماسپخین نه وروسته مصروف وي نو پوښتنه دا ده چې که موږ تقسیم کوو نو یو ورور دزیات زحمت یا زیات مهارت له املـه دزیاتې برخې غوښتنه کولای شي که نـه ؟ اوبلـه داچې مـوږ څلـور خویندې هم لرو آیا هغوئ زمـوږ سره پـدې مـال کـې شریکې دي که نه ؟

که مو پوه کړو الله تعالی به اجرونـه درکـړي. ستاسـو ورور عبدالحمید له تورخم نه

الجواب باسم ملهم الصـواب: پـه مـوروث مـال کې ټولو ورونو ګډ کـار کړیـدی نـو ټـول بـه یـو ډول شریکان وي؛ یو به د زیـات عمـل یازیـاتې زیرکتیـا لـه املـه په تقسیم کې د زیات مال غوښتنه نه کوي.

همدا راز مو خویندې هم دشریعت داصولو سره سم پدې مال کې حقداري دي دچا دزیات کار له املـه خویندې د میراث نه، نه محرومېږي.

قال العلامة ابن عابـدين رحمـه اللـه تعـالى: لـو اجتمع اخوة يعملون فى تركة ابـيهم ونمـا المـال؛ فهـو بينهم سوية ولو اختلفو فى العمل والرأي. رد المحتـار على الدرالمختار، كتاب الشركة.

دخپل کور نیمه بر خه خرڅول؟

پوښتنه : ښار کې یو کور لرم چې پـه کرایـه مـې ورکړیدی؛ پیسو ته مې اړتیا وه؛ دمامـا ځـوی مـې راتـه وویل نیم کوربه درنه ځه واخلم کرایـه بـه ددواړو نیمـه وي خو که دې کوم وخت ټول کـور خرڅولـو او ګټـه یې کوله یانې د اوسني نرخ نه په لوړ نرخ خرڅېدلو نو ځه به د ګټې غوښتنه نه کوم؛ ستا خوښه راکوې یې که نه؛ پوښتنه دا ده چې زموږ دا معامله شرعاً سـمه ده کـه نه؟ صداقت ننګیال ـ له جلال آباد نه

الجواب باسم ملهم الصواب

د کـور نیمـه برخـه پلـورل او پکـې د دواړو شرېکدل او بیا د کرایـه تقسیمول صـحیح دي خـو دا شرط لګول صحیح ندی چې وروسته ګټه تقسیمول به دمالک په رضا موقوف وي. که شرط ونه لګوي هسـې وعده ددې خبرې وکړي نو بیا پروا نه لري.

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: لو ذكر البيع بلاشرط ثم ذكر الشرط على وجه العدة جاز البيع ولزم الوفـاء بالوعـد. (رد المحتـار كتـاب البيـوع بـاب البيع الفاسد) .

جنګي جنايتونه (جنوري)

سید سعید

د ۲۰۲۱ز، کال د جنوري د میاشتې په لومړۍ نیټه د خوست مرکز اړوند ورغه کلي کې د کمپاین په نوم عسکرو یو ملکي وګړی چې د خوست – کابل پر لاره یې موټر چلاوه، شهید کړی دی.

د جنوري په ۴مه د لغمان ولایت په علیشنګ ولسوالۍ کې د حکومتي عسکرو دهاوان په ډزو کې د حضرت بلال رضی الله عنه د لیسې دوه تنه شاګردان شهیدان او دوه تنه ټپیان شو ي دي.

د جنوري په ۵مه د پکتیا ولایت د احمدابا ولسوالۍ په تاندغړک کلي کې د کمپاین په نوم عسکرو دچاپې په مهال ګڼ خلک ځورولی او دوه تنه یې شهیدان کړي دي.

د جنوري په ۵مه دفاریاب ولایت د شیرین تګاب ولسوالۍ په بازار کې داخلي عسکرو د ملکي خلکو پر یو موټر ډزې کړې، چې له امله یې د موټر چلونکي په ګډون درې تنه ولسي- وګړي شهیدان شوي دي.

د جنوري په ٦مه دهلمند ولایت د مرکز لښکرګاه د لسمې حوزې دبشر ان دمکتب په سیمه کې د اشغالګرو په بمبار کې اته تنه ولسي- وګړي چې ښځې او کوچنیان هم پکې دي شهیدان او ټپیان شوي دي.

د جنوري په ۸مه د لغمان مرکز په کچې مسکین آباد سیمه کې د حکومتي عسکرو د هاوان په ډزو کې په یو کور کې شپږ تنه میرمنې او ماشومان ژوبل شوي او په یو بل کور کې بیا یوه ښځه شهیده شوې ده.

د جنوري په ۱۱مه د ننګرهار ولایت د خوګیانو ولسوالۍ په نکړخیلو سیمه کې د حکومت په ډرون برید کې یو ملکي وګړی شهید شوی دی.

د جنوري په ۱۰مه د بدخشان ولایت د راغستان ولسوالۍ کې حکومتي عسکرو د روینج اب په نوم بازار باندې توپچي بریدونه کړي، چې له امله یې ٦۰ دوکانونه سوځیدلي او تخریب شوي او ملیونونه افغانۍ زیان خلکو ته رسیدلی دی.

د جنوري په ۱۰مه د غزني ولایت د اب بند ولسوالۍ په دالانو کلي کې حکومتي عسکرو یو

طالب العلم چې د بازګي کلا مدرسې ته روان و، شهید کړی دی.

د جنوري په ۱۱مه د غزني ولایت مرکز په پورته قلعه غچ کلي کې حکومتي الوتکو پر یو مسجد بمبار کړی، په دغه بمبا رکې مسجد ته زیان رسېدلی او درې تنه لمونځ کونکي پکې ژوبل شوي دي.

د جنوري په ۱۲مه د لوګر ولایت د محمدآغې ولسوالۍ په زرغون ښار سیمه کې حکومتي عسکرو د چاپې په مهال د خلکو د کورونو دروازې په بمونو الوزولې،خلک یې وهلي او ځورولي دي او د شمس المدارس مدرسې خطیب (مولوي محمد نسیم) یې شهید کړی او څلور تنه نور ولسي- وګړي یې ټپیان کړي دي.

د جنوري په ۱۳مه د کونړ ولایت دمنوړې ولسوالۍ په بچي کلي کې د صفردو په نوم عسکرو د سیمه ییز ښوونځي یو استاد شهید کړی او ګڼ نور ولسي وګړي یې کړولي دي.

د جنوري په ۱۴مه د دایکندي ولایت د ګیزاب ولسوالۍ په کاغ سیمه کې د داخلي عسکرو د توپچي په ډزو کې یوه ښځه شهیده شوې او دوه تنه ماشومان ټپیان شوي دي.

د جنور ي په ۱۴مه دهلمند ولایت دناوې ولسوالۍ دجرنامو په سیمه کې داخلي عسکرو دکلي ملا امام (مولوي احمدالله) شهید کړی او یو ماشوم یې زخمي کړی دی. همداراز په سیمه کې د یرغګرو په ډرون حمله کې هم یو تن شهید شوی او یو بل کس ژوبل شوی دی.

د جنوري په ۱۵مه د خوست ولایت په سپېره ولسوالۍ کې دکمپاین په نوم عسکرو دولسي خلکو پرکورونو چاپه وهلې، څلور تنه ملکي وګړي یې له خپلو کورونوڅخه رایستلي بیا یې شهیدان کړي دي.

د جنوري په ۱۶مه دهرات ولایت دکهسان ولسوالۍ داسلام قلعه پر بازار حکومتي عسکرو دهاوانونو پیرونه کړي، چې له املې یې اته تنه دوکانداران ټپیان شوي او خلکو ته پراخ مالي تاوانونه رسیدلي دي.

د جنوري په ۱۷مه د غور ولایت د ساغر ولسوالۍ د زالانه په سیمه کې اربکیانو یو شپونکی شهید اویو بل تن زخمي کړی دی.

د جنوري په ۱۷مه دهرات ولایت د کهسان ولسوالۍ د اسلام قلعه په قدوس آباد سیمه کې د حکومتي عسکرو د هاوان په ډزو کې دوولس تنه ملکي وګړي شهیدان او ټپیان شوي دي.

د جنوري په ۱۸مه د جوزجان ولایت مرکز په شورجر کلي کې داخلي عسکرو د علاء الدین په نوم یو ملکي وګړی شهید کړی دی.

د جنوري په ۲۰مه د بغلان ولایت د پلخمري ولسوالۍ په خلازیو سیمه کې دحکومتي عسکرو دهاوان په ډزو کې د یوې کورنۍ اته تنه غړي د ښځو او ماشانو په ګډون ژوبل شوي او خلکو ته مالي زیانونه اوښتي دي.

د جنوري په ۲۰مه د کندزولایت د امام صاحب ولسوالي په بخمل کوچه سیمه کې داخلي عسکرو یو ماشوم شهید کړی دی.

د جنوري په ۲۰مـه د بدخشـان ولايـت د ارگـو ولسوالۍ په مربوطاتو کې داخلي عسکرو يو ملکـي وګړی شهيد کړی دی.

د جنوري په ۲۰مه د لوګر ولايت د برکـي بـرک ولسوالۍ په محمدرضا کلي کې د حکومتي عسکرو د توپچي په ډزو کې يو کليوال شهيد شوی او يو تن ژوبل شوی دی.

د جنوري په ۲۳مه د بغـلان ولايـت د پلخمـري ولسوالۍ په اکـاخيلو کـلي کـې د داخـلي عسـکرو دهاوان په ډزو کې يو کليوال شهيد شوی دی.

د جنـــوري پـــه ۲۴مـــه د هـــرات ولايـــت د شيندنډولسـوالۍ د زاول حـوزې پـه تـاج کـلي کـې اربکيانو يو ملکي وګړی چې خپله ناروغه ميرمن يې د درملنې په موخه ډپـوزي دسـيمي کلنيـک تـه پـه موټرسايکل سپره کړي وه، دخپلې ميرمنې په مخکـې شهيد کړی دی.

د جنـوري پـه ۲۴مـه دنيمـروز ولايـت د دلارام ولســوالۍ پــه مربوطــاتو کــې حکــومتي الوتکــو دنيمروز- دلارام پر سړک بمبار کړی، په دغـه بمبـار کې اته تنه ملکي وګړي شهيدان او ټپيان شوي دي.

د جنوري په ۲۵مـه دفاريـاب ولايـت د لـولاش ولسوالۍ په ملاعارفي سيمه کې داخلي عسکرو يو ملکي وګړی شهيد کړی دی.

د جنوري په ۲۵مه د خوسـت ولايـت د صـبريو ولسوالۍ په ناکـام کـلي کـې د کمپـاين عسـکرو د چاپې په مهال د رحمـة الله پـه نـوم يـوملکي شـهيد کړی دی.

د جنوري په ۲۵مه د کندز ولايت د دښت ارچي ولسوالۍ د امير ملوک کلي کې حکومتي الوتکو يو مسجد بمبار کړی، چې له کبلـه يـې مسـجد تخريـب شوی او د سر زيان نه دی پکې رامنځته شوی.

د جنوري په ۲۵مه د لوګر ولايـت مرکـز اړونـد پښتون اباد سيمه کې داخلي عسکرو پر ولسي وګړو ډزې کړې،چـې لـه املـه يـې دوه تنـه ملکـي وګـړي شهيدان شوي دي.

د جنـوري پـه ۲۷مـه د غـزني ولايـت د شـلګر ولسوالۍ دنـاني پـه سـيمه کـې حکـومتي عسـکرو دکابل- کندهار پر لاره د مسافرو په کاسټر موټر ډزې کړې چې له املـه يې اته تنه مسافر شهيدان شـوي او يو تن ژوبل شوی دی .

د جنـور ي پـه ۲۷مـه د ميـدان وردګ ولايـت سيدآباد ولسوالۍ سالارو کې د داخـلي عسـکرو پـه ډزو کې دوه تنه ولسي وګړي شهيدان شوي دي.

د جنوري په ۲۷مه د بلخ ولايـت د چهاربولـک ولســوالۍ د ســليمانخيلو کــلي بانــدې د حکــومتي خواکونو په بمبار کې درې تنه ملکي وګړي شهيدان شوي دي.

د جنـوري پـه ۲۷مـه د هـرات ولايـت د ربـاط سنګي ولسوالۍ په ګنج سيمه کې د داخلي عسـکرو په ډزو کې يوه ښځه او زوی يـې شـهيدان شـوي او دوه تنه ټپيان شوي دي.

د جنـوري پـه ۲۸مـه دبـادغيس ولايـت د مقـر ولسوالۍ د ترکو کلي کـې د حکـومتي خواکونـو پـه بمبار کې يوه کليوالي دواخانه او يـو دوکـان ويجـاړ او خلکو ته مالي زيانونه اوښتي دي.

د جنوري په ۲۹مه دبادغیس ولایت د آبکمرې ولسوالۍ په کهنه قول سیمه کې د داخلی عسکرو د ډې سي توپ په ډزو کې پنځه تنه ولسي- وګړي ژوبل شوي دي.

د جنوري په ۲۹مه د بغلان ولایت د پلخمري ولسوالۍ د ډنډ شهاب الدین په اوریا خپلو سیمه کې دحکومت په بمبار کې یو کور تخریب شوی او درې تنه ملکي وګړي پکې شهیدان او ژوبل شوي دي.

د جنوري په ۲۹مه د بلخ ولایت د چهاربولک ولسوالۍ په نواباد کلي کې حکومتي الوتکو په سیمه کې یو جامع مسجد بمبار کړی، چې له کبله یې مسجد ته زیان رسیدلی دی.

د جنوري په ۳۰مه د فراه ولایت دفراه رود ولسوالۍ پر بازار یرغلګرو او حکومتي ځواکونو چاپه وهلې، قیمتي توکي یې له دوکانونه وړي،یو منځنی ښوونځی او شل دوکانونه یې نړولي او په بازار کې ولاړ نقلیه وسایط یې په مرمیو سوري سوري کړي دي.

د جنوري په ۳۱مه دهرات ولایت د شیندنډ ولسوالۍ په بازار کې اربکیانو یو ملکي وګړی شهید کړی دی.

د جنوري په ۳۱مه دبادغیس ولایت د آبکمري ولسوالۍ مرکز ته څیرمه د حکومتي عسکرو د توپچي په ډزو کې یوه ښځه شهیده شوې او دوې ماشومانې ژوبلې شوې دي.

د جنوري په ۳۱مه د کندهار ولایت د ارغنداب ولسوالۍ دهدیرې په سیمه کې حکومتي عسکرو پر یو صحي کلینیک چاپه وهلې، د کلنیک اته تنه ډاکټران او پرسونل یې بندیان کړي او طبي وسایل یې له منځه وړي دي.همداراز له دې پیښې یوه ورځ وړاندې هم دارغنداب ولسوالۍ په بولان دره کې حکومتي الوتکو یو امبولانس موټر په نښه کړی چې یو ناروغ پکې شهید شوی دی.

د جنوري په ۳۱مه دهرات ولایت د پښتون زرغون ولسوالۍ د میانده جو په سیمه کې اربکیانو د یو ملا امام په ګډون څلور تنه ملکي وګړي شهیدان کړي دي.

***

(فبروري)

د ۲۰۲۱ ز، کال د فبروري د میاشتې په لومړۍ نیټه حکومتي ځواکونو د کندز ولایت د امام صاحب ولسوالۍ د بخمل کوچې او پادخواب سیمو کې د توپچي بریدونه او بمبار کړی، چې له املې یې لس تنه ولسي هیوادوال شهیدان او ژوبل شوي دي.

د فبروري په ۲مه دهلمند ولایت د ناوې ولسوالۍ دشنه پله په سیمه کې حکومتي الوتکو پر ملکي خلکو بمبار کړی، په دغه بمبار کې دوه سپین ږیري او دوه ماشومان شهیدان شوي او څلور تنه ملکي وګړي ژوبل شوي دي.

د فبروري په ۳مه دهلمند ولایت دناوې ولسوالۍ دښائسته خان د ډراب په سیمه کې عسکرو یو سپین ږیری شهید کړی دی.

د فبروري په ۳مه دبادغیس ولایت د آبکمري ولسوالۍ په مربوطاتو کې داخلي عسکرو یو ملکي موټر چلونکی شهید کړی دی.

د فبروري په ۴مه د زابل ولایت د ښارصفا ولسوالۍ د قومندان عبدالاحد په کلي کې داخلي عسکرو یو ماشوم(بخت محمد د پیدا محمد زوی) شهید کړی دی. همدا راز حکومتي عسکرو د دې ولسوالۍ د زیارت کلي ته څیرمه دوه تنه ملکي وګړي چې پر موټر سایکل سپاره وو، شهیدان کړي دي.

د فبروري په ۴مه د ننګرهار ولایت د شیرزادو ولسوالۍ د طوطو په سیمه کې د داخلي عسکرو د هاوان په ډزو کې یوه ښځه شهیده شوې او څلور ماشومان ټپیان شوي دي.

د فبروري په ۴مه د بدخشان ولایت د راغستان ولسوالۍ تنیلر کلي کې د داخلي عسکرو د ډیسي توپ په پیرونو کې څلور ماشومان او میرمنې شهیدان او ټپیان شوي دي.

د فبروري په ۵مه د فراه ولایت د فراه رود ولسوالۍ بازارکې حکومتي عسکرو د ملکي خلکو ګڼ دوکانونه او کورونه ویجاړ کړي او قیمتي توکي یې چور کړي دي.

د فبروري په ۵مه دبادغیس ولایت د آبکمري ولسوالۍ دکنه قل په کلي کې د داخلي عسکرو د هاوان په ه ډزو کې یوه مدرسه او یو شمېر کورونه زیانمن شوي دي.

د فبروري په ٦مه د بغلان ولایت د نهرین ولسوالۍ مرکز کې حکومتي عسکرو پر یو موټر ډزې کړې چې له املې یې درې تنه ملکي وګړي شهیدان او ټپیان شوي دي.

د فبروري په ٦مه د سرپل ولایت دسیداباد ولسوالۍ د منګوتي په سیمه کې د حکومتي عسکرو د هاوانونو په پیرونو کې پنځلس کورونه زیانمن شوي دي.

د فبروري په ۷مه دفراه ولایت دپشترود ولسوالۍ په ګجګین سیمه کې حکومتي الوتکو هغه امبولانس موټر په نښه کړی چې له پشترود ولسوالۍ څخه یې ملکي وګړي چې زخمیان شوي وو، لیږدول.

د فبروري په ۷مه دسرپل ولایت د سیداباد ولسوالۍ په قوشتپه سیمه کې د حکومتي عسکرو د هاوان په ډزو کې یوه میرن شهیده شوې او شپږ نورې ژوبلې شوې دي.

د فبروي په ۷مه دهلمند ولایت دناوې ولسوالۍ دشنه پله په سیمه کې د داخلي عسکرو د توپچي په ډزو کې اته تنه میرمنې او ماشومان ټپیان شوي دي.

د فبروري په ۷مه دهلمندولایت دګرشک ولسوالۍ دنهرسراج د وزیرو مانده سیمه کې د حکومتي عسکرو د هاوان په ډزو کې دوه ماشومان شهیدان شوي او درې تنه ټپیان شوي دي.

د فبروي په ۷مه د تخار ولایت د خواجه غار ولسوالۍ کې حکومتي عسکرو د خلکو په کورونو ډیسې توپونه ویشتلي، چې له املې یې یو دیني عالم شهید او نهه تنه نور ملکي وګړي ژوبل شوي دي.

همداراز د چال ولسوالۍ په زمبورک سیمه کې اربکیانو یو ملکي وګړی شهید کړی دی.

د فبروري په ۸مه دسرپل ولایت د سوزمه قلعه ولسوالۍ مرکز ته څیرمه د حکومتي ځواکونو په بمبا رکې دوه مسجدونه شهیدان شوي او خلکو ته مالي تاوانونه او ښتي دي.

د فبروري په ۸مه د لغمان مرکز مهترلام بدیع آباد سیمه کې داخلي عسکرو یو ملکي وګړی چې د سړک په غاړه یې سبزي خرڅوله، شهید کړی دی.

د فبروري په ۹مه د بغلان ولایت د پلخمري ولسوالۍ د ملایانو سیمه کې د داخلي عسکرو د ډیسي توپ په ډزو کې یوه میرمن شهیده شوې او درې ماشومان یې ژوبل شوي دي.

د فبروري په ۹مه د کمپاین په نوم عسکرو د خوست ولایت مرکز د کونډیو سیمې څخه یو ملکي وګړی(بادشاه) له خپل پټې څخه د ځان سره وړي او بیا یې شهید کړی دی.

د فبروري په ۹مه دفاریاب ولایت دالمار ولسوالۍ بازار ته څیرمه د حکومتي الوتکو په بمبار کې دملکي خلکو د تېلو یو پمپ ویجاړ شوی دی.

د فبروري په ۱۱مه دفاریاب ولایت د ګرزیوان ولسوالۍ د سرچکان په سیمه کې د حکومتي عسکرو دتوپچي په ډزو کې یو ملکي سړی(حاجي عبدالکریم) او میرمن یې شهیدان شوي دي.

د فبروري په ۱۲مه د ارزګان ولایت د مرکز ترینکوټ په چنارک سیمه کي داخلي عسکرو یو سپین ږیری شهید کړی دی.

د فبروري په ۱۲مه دا رزګان ولایت په دهراود ولسوالۍ کې دکمپاین دیوي پوستي عسکرو له یوه غریب کلیوال څخه ډوډۍ غوښتې، نومورې ورته ویلي و، چې ډوډۍ مو نه ده پخه کړې، په همدې علت عسکرو نومورې کلیوال شهید کړی او د نومورې شهید میرمن چې د خپل خاوند دفاع یې کوله زخمي کړې ده.

د فبروري په ۱۳مه دهلمند ولایت د ګرشک ولسوالۍ دنهرسراج دیکه لنګ په سیمه کې داخلي عسکرو دولسي خلګو پر موټر ډزې کړې، چې له املې یې په موټر کې ناست (معلم اجمل، میرمن او ماشوم زوی یې) ټپیان شوي دي.

د فبروري په ۱۳مه حکومتي الوتکو د بلخ ولایت د شولګره ولسوالۍ په اغرسای سیمه کې پر یو مسجد بمبار کړی،په دغه بمبار کې مسجد زیانمن شوی او ملا امام پکې شهید شوی دی.

د فبروري په ۱۳دهلمند دناوې ولسوالۍ په مربوطاتو کې د داخلي عسکرو د هاوان په ډزو کې دوې ماشومې نجونې شهیدانې شوې دي.

د فبروري په ۱۴مه دهلمند ولایت دناوې ولسوالۍ دامین دپوستې په سیمه کې داخلي عسکرو درې تنه ولسي وګړي شهیدان کړي دي.

د فبروري په ۱۴مه د کونړ ولایت د چپې درې ولسوالۍ په بسطلي سیمه کې اربکیانو د خلکو پر کورونو ډزې کړې چې له املې یې یو ملکي وګړی شهید شوی دی.

د فبروري په ۱۵مه دهلمند ولایت دګرشک ولسوالۍ دنهرسراج دشندک مانده په سیمه کې

داخلي عسکرو له خپلې پوستې څخه يو ملکي وګړی ويشتلی او شهيد کړی دی.

د فبروري په ۱۵مه دفاریاب ولایت د دولت اباد ولسوالۍ د خیراباد په سیمه کې د داخلي عسکرو د ډیسي توپ په برید کې یوه ښځه اویو ماشوم شهیدان شوي دي.

د فبروري په ۱۵مه دغور ولایت د مرکز فیروزکوه د اهنګرانو په سیمه کې د حکومتي الوتکو په بمبار کې یو ملکي وګړی شهید شوی او خلکو ته پراخ مالي زیانونه اوښتي دي.

د فبرور ي په ۱٦مه د کابل ولایت د ده سبز ولسوالۍ په ناوې کلي باندې د صفر یک قطعې عسکرو چاپه وهلې، د خلکو د کورونو دروازې یې ماتې کړې،دوه تنه ولسي وګړي یې شهیدان کړي او څلور تنه د هوټل کارکوونکي یې د بندیانو په توګه له ځان سره وړي دي.

د فبروري په ۱٦مه دهلمند ولایت دناوې ولسوالۍ داڅګزو د ښاخ په سیمه کې دحکومتي ځواکونو په بمبار او توپچي بریدونو کې پنځه تنه ملکي وګړي شهیدان او یوولس تنه ټپیان شوي او ګڼ شمېر کورونه زیانمن شوي دي.

د فبروري په ۱۷مه دفاریاب ولایت د شیرین تګاب ولسوالۍ په اسلام او شش تپه سیموکې د حکومتي ځواکونو په بمبار کې یوه میرمن ټپي شوې او یو سړی شهید شوی دی.

د فبروري په ۱۹مه د بدخشان ولایت د وردج ولسوالۍ په غنیو کلي کې د حکومتي عسکرو دتوپچي په ډزو کې یو ملکي سړی شهید شوی او دوه تنه ژوبل شوي دي.

د فبروري په ۱۷مه د تخار ولایت د دښت کلا ولسوالۍ په چیچکه او جهلم خور سیمو کې د داخلي عسکرو د هاوان په ډزو کې یو ماشوم شهید شوی او شپږ تنه ژوبل شوي دي.

د فبروري په ۱۸مه د بلخ ولایت د زارع ولسوالۍ په بلهاني سیمه کې د داخلي عسکرو د هاوان په ډزو کې اووه تنه ملکي وګړي ژوبل شوي او خلکو ته مالي تاوانونه اوښتي دي.

د فبروري په ۱۸مه حکومتي الوتکو د بلخ ولایت د چهاربولک ولسوالۍ په خان اباد سیمه کې د حاجي امان کلي په مسجد او حجره بمبار کړی،په دغه بمبا رکې څلور ولسي وګړي شهیدان او دوه تنه ټپیان شوي دي.

د فبروري په ۱۹مه دهلمند ولایت دناوې ولسوالۍ دپارچاوې په سیمه کې د داخلي عسکرو دتوپچي په ډزو کې یو ملکي سړی شهید شوی او درې تنه ژوبل شوي دي.

د فبروري په ۱۹مه دفاریاب ولایت دقیصار ولسوالۍ په بازار کې داخلي عسکرو په ملکي خلکو ډزې کړي چې له املې یې یو ملکي وګړی شهید اویوبل تن زخمي شوی دی.

د فبروري په ۱۹مه د کونړ ولایت د چپې درې ولسوالۍ په سیدور کلي کې حکومتي ځواکونو د چاپې په مهال یو ملکي وګړی او دوې ماشومې لونې یې شهیدان کړي دي.

د فبروري په ۲۰مه د پکتیا ولایت د جاني خیلو ولسوالۍ په موتیو کلي کې د داخلي عسکرو د توپچي په برید کې یوه میرمن شهیده شوې ده .

د فبروري په ۲۲مه د خوست ولایت د گربز ولسوالۍ په پنځایي کلي کې دکمپاین عسکرو دخلکو پر کورونو چاپه وهلې،درې تنه ملکي وګړي یې له خپلو کورونو څخه وړي او بیا یې شهیدان کړي دي.

د فبروري په ۲۳مه د کاپیسا ولایت د نجراب ولسوالۍ امام خیلو سیمه کې داخلي عسکرو یو ملکي وګړی شهید کړی دی.

د فبروري په ۲۴مه دهرات ولایت د شیندنډ ولسوالۍ په مرکزي سیمه کې اربکیانو دولسي خلکو ۱۵ دوکانونه مات کړي، قیمتي او خوراکي توکي یې ترې وړي دي.

د فبروري په ۲۴مه د ننګرهار ولایت د بتې کوټ ولسوالۍ په نغلو سیمه کې اربکیانو یو ماشوم شهید کړی دی.

د فبرور ي په ۲۴مه د غزني ولایت د شلګر ولسوالۍ په نانې کلي باندې حکومتي عسکرو هاوانونه ویشتلي،چې له امله یې درې تنه ملکي وګړي ژوبل شوي دي.

د فبروري په ۲٦مه د کاپیسا ولایت د اله سای ولسوالۍ د صاحبزاده ګانو سیمه کې حکومتي عسکرو دولسي خلکو پر کورونو هاوانونه ویشتلي، چې له امله یې یوه ماشومه شهیده شوې او خلکو ته مالي زیانونه رسیدلي دي.

د فبروري په ۲٦مه د کندهار ولایت د پنجوایي ولسوالۍ د سلاوات او ناخوني سیمو کې حکومتي عسکرو د استوګنې پر سیمو توپچي بریدونه کړي چې له امله یې دوه ملکي وګړي شهیدان شوي او خلکو ته مالي تاوانونه اوښتي دي.

د فبرروي په ۲۷مه د زابل ولایت د خاک افغان ولسوالۍ د خنګلي پر کلي داخلي عسکرو چاپه وهلې، پنځه تنه ولسي وګړي یې بندیان کړي او یو تن یې پکې شهید کړی دی.

د فبروري په ۲۷مه د بادغیس ولایت په مرغاب ولسوالۍ کې د حکومتي عسکرو په توپچي ډزو کې یو سړی شهید او څلور تنه ملکي وګړي ژوبل شوي دي.

د فبروري په ۲۷مه حکومتي ځواکونو د بادغیس ولایت دقادس ولسوالۍ دلنګر په سیمه کې داستوګنې پر سیمه هاوانونه پیر کړي چې له امله یې څلور تنه ښځې او ماشومان شهیدان او پنځه تنه ټپیان شوي دي.

د فبروري په ۲۷مه د فاریاب ولایت دالمار ولسوالۍ د جلګلدي په سیمه کې حکومتي الوتکو یو ملکي وګړی شهید کړی او بل تن ژوبل کړی دی. د فبروي په ۲۸مه دفاریاب ولایت د المار ولسوالۍ په بازارکې داخلي عسکرو یو ملکي وګړی شهید کړی دی.

د فبروري په ۲۸مه د فاریاب ولایت د دولت اباد ولسوالۍ په قوزي بای قلعه سیمه کې د داخلي عسکرو د هاوان په برید کې یو ملکي سړی شهید شوی دی.

مأخذونه : [بي بي سي راډیو،ازادي = ،افغان اسلامي اژانس ، پژواک = ،ټول افغان ویپانه، لراوبر= ، نن ټکی اسیا]

د مورچل وږمي

له چناره تر چناره

نظام

دحسن سپارې

تپاند زهاد

ستا د حسن سپارې په سترګو لولم
ستا د مینې کلیمې په سترګو لولم

هر مضمون دې په زړه پورې جنتي دی
دا ستا ښکلي صحیفې په سترګو لولم

سترګې سترګې شم یوازې راته ښکاري
د ښکلا دې ائینې په سترګو لولم

هم په ویښه هم په خوب کې راسره وي
انځور ستا د مدینې په سترکو لولم

و ښکلا ته دې ایره لکه لونګ شم
و وصال ته دې ډیوې په سترګو لولم

چې د خیال په دنیاګۍ مې را نازل شې
اوښکې اوښکې شم لیمې په سترګو لولم

که په حیث دې زه غلام تپاند زُهاد شم
د خوښۍ به زه شیبې په سترګو لولم

نصیب یووړم له پرهاره تر پرهاره
زه او درد یو له سهاره تر سهاره

ګلابونه مو خزان په ولجه یوسي
منتظر یو له بهاره تر بهاره

څو قدمه د لمبو په تل کې اخلي
لاروي ځي له قراره تر قراره

سترګي توري کړي بیا ځي وینو کې لامبي
روانیږي له سنګاره تر سنګاره

هم یې سیوري ته کېنو هم مو تابوت شي
زندګي مو له چناره تر چناره

له یوه ژونده تابیا نیسو د بل ژوند
کډه کیږو له بازاره تر بازاره

شیرین جام د کوثر غواړم هېر مي نکړې
نظام راغلم له خماره تر خماره

ګودر په وینو سوردی

ذاکر ځلاند

کلی بمبار ، مسجد شهید ، مدرسه ړنګه د چم
کورونه وران او لوټي لوټي کوڅه ړنګه د چم

څوک شهیدان ځیني زخمي څوک اسیران له خلګو
ګلونه ټول دي پاڼي پاڼي باغچه ړنګه د چم

چنار سوځلی منګي مات ګودر په وینو سور دی
پیغلي شهیدي ماځیګر او مزه ړنګه د چم

اوس په کي نشته د زلمیو طالبانو خندا
نه یې د ېوال شته نه یې ور شته حجره ړنګه د چم

خان د ظالم سره پرڅنګ ، د مظلوم هیڅ نه اوري
ختم شو عدل په انصاف فیصله ړنګه د چم

«ذاکر ځلانده» خپل مو ولاړل غلامان شول د بل
د ورورولۍ ، اخلاص او میني جذبه ړنګه د چم

غزل

صابرجان محصل

د پامیر له هسکو څوکو به راستون شم
د خزان په توره ځمکه به زرغون شم

د هیواد د دښتو تنده به کړم ماته
چي ساقي ورته له غیږې د جیحون شم

د ظالم جلاد د تورې وار به نه وي
که حاکم د شریعت عادل قانون شم

نفرتونه د غازي عزم مات کړي
محبت به په ټولنه کي تړون شم

د شپونکي اشنا شپیلۍ ساز بدل کړی
د صابر غزل به نوی اوښتون شم

پورته انځورونه د فاریاب د یوکلینک او لاندې انځورونه د ننګرهار د یوې مدرسې
او جومات دي چې د جنایتکار دښمن د وحشیانه بریدونو بېلګه ښیي!





MORCHAL

Islamic, Jihady, Educational
and Cultural Monthly Journal

پنجشیر